# امام اعظم رحمة الله عليه

ليکوال: مولانا محمد عاشق الهي

ژباړن: مولوي احمد الله ابو البدر (مرتاض)

صداقت خپرندويه ټولنه

ارګ بازار، کندهار

www.taleemulislam-radio.com

فَسۡـَٔلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ إِن كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٤٣﴾

د

# امام اعظم رحمة الله عليه

## لنډه پيژندنه

ليکوال:

مولانا محمد عاشق الهي رحمة الله عليه

ژباړه او زياتونه:

مولوي احمد الله (ابو البدر مرتاض)

تعليم الاسلام راډيو ويب پاڼه
www.taleemulislam-radio.com

ټول حقوق په خپرندوی اړه لري

## د کتاب پېژندنه :


| | |
|---|---|
| ❖ د کتاب نوم | : دامام اعظم رحمه الله لنده پېژندنه |
| ❖ ليکوال | : مولانا محمد عاشق الهي رحمه الله |
| ❖ ژباړه او زياتونه | : مولوي احمدالله (ابوالبدر مرتاض) |
| ❖ خپرندوی | **: صداقت خپرندویه ټولنه/کندهار** |
| ❖ کمپوز | : صداقت خپرندویه ټولنه |
| ❖ کمپوزر | :حاجي نعمت الله شاکر |
| ❖ د پښتي طرحه | :محمد عمر |
| ❖ چاپکال | : ۱۳۸۹ ش – ۱۴۳۲ ق |
| ❖ دوهم چاپ | :۱۳۹۱ ش ۱۴۳۳ |
| ❖ چاپشمېر | : ۱۰۰۰ ټوکه |



**د ترلاسه کولو پته:**

**صداقت خپرندويه ټولنه**

ارګ بازار، کندهار –افغانستان
اړيکي : ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷
ايمېل ادرس :
sadaqat.books@yahoo.com
Sadaqat.books@gmail.com

**په کوئټه کي د ترلاسه کولو پته:**

**مکتبه سلطانيه**، کاسي روډ،
کوئټه -پاکستان ،
مسؤل :حاجي سلطان محمد–
ټليفون شمېره: ۰۳۳۳۷۸۸۳۰۰۰

## امام شافعي رحمة الله علیه وايي:

ټول خلک په فقه کي د ابو حنيفه رحمة الله علیه محتاج دي.

## عبدالله ابن المبارک رحمة الله علیه وايي:

هر کله که رايي ته حاجت پيدا کيږي، نو دا دري رايي دي: يوه د مالک رحمة الله علیه بله د سفيان ثوري رحمة الله علیه او بله د ابو حنيفه رحمة الله علیه رايه ده.
ابو حنيفه رحمة الله علیه تر ټولو بهتر دئ، تر ټولو زيات زيرک دئ تر هر چا په فقه کي زيات ژور پرېوزي او دی تر دې دريو تنو زيات فقيه دئ.

## خطيب بغدادي وايي:

که څوک فقه زده کول غواړي د ابو حنيفه رحمة الله علیه او دهغه د شاګردانو سره دي واوسي، ځکه چي ټول خلک په فقه کي د ابو حنيفه رحمة الله علیه محتاج دي.

# فهرست


۱. تقریظ ........................ ٦
۲. د سر خبري ........................ ۷
۳. نوم، نسب او زېږېدنه ........................ ۹
۴. د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه استاذان ........................ ۱۰
۵. د امام اعظم رحمة الله علیه شاګردان ........................ ۱۱
٦. د حدیثو په علم کي د امام اعظم مقام ........................ ۱۲
۷. هغه اووه حدیثونه چي ابو حنیفه روایت کړي ........................ ۱۴
۸. په فقه کي د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه مقام ........................ ۱۷
۹. د ابو حنیفه رحمة الله علیه عقلمندي او ذکاوت ........................ ۲۱
۱۰. د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه حیرانوونکي جوابونه ........................ ۲۱
۱۱. د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه خویونه ........................ ۳۷
۱۲. د ابو حنیفه رحمة الله علیه بوختیاوي ........................ ۳۹
۱۳. د امامت لوړ مقام ئي ........................ ۳۹
۱۴. د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه سخاوت ........................ ۴۱
۱۵. د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه وفات ........................ ۴۳
۱٦. د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه وصیتونه ........................ ۴۵
۱۷. امام ابو یوسف انصاري رحمة الله علیه ........................ ۵۳
۱۸. محمد بن حسن الشیباني رحمة الله علیه ........................ ۵۸
۱۹. امام زفر رحمة الله علیه ........................ ٦۲
۲۰. د صداقت خپرندویه ټولني د کتابونو لیست ........................ ٦۴

# تقریظ

نحمده ونصلي ونسلم على رسوله الكريم و على آله و اصحابه حماة الدين المتين

درنو لوستونکو ! دا یو څرګند حقیقت دئ چي څښتن تعالی ﷻ په خپله لورونه بشریت په یوه داسي بشر ونازاوه چي د سید البشر حضرت محمد ﷺ رښتیني دین ته رښتینی خدمت وکړي، تر دې حده چي لر او بر نړۍ ئې د نامه سره اشناده چي د امام ابو حنیفه نعمان بن ثابت رحمه الله څخه عبارت دئ د یوه داسي چا پېژندنه د هر حنفي یوه تنده ده ځرنګه چي محترم دوست مولوي احمد الله ( ابوالبدر ) په خپله پېرزوینه یو داسي کتاب ژباړلي دئ چي په رښتیني ډول سره ئې تر یوه بریده د امام ابو حنیفه رحمه الله پېژندنه پکښي را نغښتې ده او د تائید وړ ده، الله ﷻ دي ئې و مؤلف او ژباړونکي ته اجر جزیل ورکړي.
تر کومه ځایه چي موږ نوموړې لیکنه ولوسته ډېر خوښ سولو او د زړه له کومي مننه ترې کوو چي د کار له امله ئې د دیني چوپړ تله نوره هم درنه سوه او په راتلونکي کي د نور چوپړ هیله ورته لرو .

واخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين

دار الافتاء جامعه اسلامیه اشرفیه

# د سر خبري

د کتاب لوستني سره زياتي ميني اړ کړی يم چي د کتاب پلورونکو او کتاب لرونکو سره اړيکي وساتم؛ يوه ورځ يو کتاب پلورنځی ته ورغلم کتابونه مي کتل تر څو يو نوی کتاب وينم او رائې نيسم؛ ګورم چي د الماری په لوړ کتار کي يو کتاب د مذهبي کتاب غوندي پروت دئ کله چي مي په ځير ورته وکتل په پښتو ژبه د هغه ...(اميتا بجهن) بيوګرافي وه چي ټول عالم ته ئې د فساد درس په ميراث پرې ايښی دئ !

ډېر مي پر خپلو ځوانانو زړه وسوځيدئ ځکه د هغه خدای ﷻ په فعلي او ذاتي صفتونو نه دي خبر چي لږ تر لږه په شپه او ورځ کي څلورشپيته ٦٤ ځله سجده ورته کوي، د هغه نبي ﷺ په اړه نه پوهيږي چي پر نامه ئې کليمه وايئ او هغه امام اعظم رحمة الله عليه نه پيژني چي د دوی لپاره ئې د خپل اويا کلن عمر زياته برخه د دين په تشريحاتو کي تېره کړه!

اخر دې نتيجې ته ورسېدلم دا چي زموږ ځيني افغان ځوانان د دغو کاغذي اتلانو په اړه دومره زيات معلومات لري د دغو زيار کښو ؟ کتاب ليکونکو د کتابونو نتيجه ده.

دې حالت ډېر متاءثره کړم، تصادفي د پېښوري عالم مولانا محمد عاشق الٰهي البرني يو کوچنی کتاب (المواهب الشريفة في مناقب امام ابي حنيفة) په لاس راغی په مينه - مينه مي د ځينو تعليقاتو سره پښتو ته وژباړی او د ځينو نورو معتمدو کتابونو څخه مي هم څه

معلومات راټول کړه تر څو زما پښتانه وروڼه او خوینديږ د خپل هغه امام په اړه لومړني معلومات ولري چي ټول ديني فرضونه د هغه امام د تشریحاتو په رڼا کي تر سره کوي .

پوهان وايي : کتاب چي کله ولیکل سي د خلکو مال بلل کېږي خو تر خلکو پوري رسول ئې ستونزمن کار دئ ؛ دا چي محترم ورور حاجي نعمت الله ( شاکر ) ستړیاوي و ګاللې، د کمپوز چاري ئې په ورین تندي تر سره کړې.

او ډېر ګران محمد عمر د صداقت خپرندویه ټولني مسؤل د چاپ زحمت وزعمی لوی واکمن ﷻ دي سوکاله ژوند او فردوس جنت ور په برخه کړي . آمین

پر خدای ﷻ مو سپارم د یوې دُعاء په هیله

مولوي احمد الله (ابو البدر مرتاض)

# نوم، نسب او زیږیدنه

نحمدُه ونُصلّي على رسوله الكريم

حضرت امام اعظم ابو حنیفة رحمة الله علیه په اتیا (۸۰) هـ . ق . کال کي زیږیدلی او په یو سل و پنځوس (۱۵۰) هـ . ق . کال وفات سوی دئ د عراق د کوفې اوسېدونکی وو : نوم ئې نعمان یا عتیک وو ، کُنیه نوم ئې ابو حنیفه وو (د حنیفې پلار وو حنیفه دده لور وه) په اغلب گمان په قوم تاجک وو د پلار نوم ئې ثابت وو نیکه ئې زوطي نومېدئ چي کابل له اوسېدونکو څخه وو چي لمړی ئې اسلام نه وو راوړي او بیا وروسته مسلمان سو امام صاحب رحمة الله علیه یو زوی درلود چي حماد نومېدئ او ډېر پیاوړی عالم وو .

کوفه د امیر المؤمنین حضرت عمر رضي الله عنه په امر د هجرت په اوولسم کال آباده سوه چي ډېر مشهور صحابه (رضي الله عنهم) پکښي اوسېدله «تقریبًا دري سوه (۳۰۰) تنه د بیعت الرضوان صحابه او تقریبًا اویا (۷۰) تنه د بدر غازیان او هم د قرآن عظیم الشان اووه نوي (۹۷) تنه حافظان» پکښي اوسېدل؛ حضرت عمر رضي الله عنه به ویل: په کوفه کي ډېر لوړ کسان موجود دي !

نژدې ټول اسلامي علوم لکه : صرف ، نحو ، لُغت ، معاني ، فقه ، د فقهي اصول او نور له کوفې څخه را پورته سوي دي .

امام اعظم رحمة الله عليه تابعي وو ځکه د حضرت انس بن مالک رحمة الله عليه په ګډون ئې ځيني اصحاب لکه: عبدالله بن ابي اوفي، عمرو بن حارث، عبدالله بن رئيس، ابو الطفيل، عامر بن واثله او نور اصحاب رضي الله عنهما ئې ليدلي وه چي د حافظ ابن حجر عسقلاني رحمة الله عليه په وينا دغه د تابعيت منصب د بل عالم نه دئ په برخه سوی کوم چي دده معاصر وو لکه: په شام کي اوزاعي، په کوفه کي سفيان ثوري رحمة الله عليه، په مدينه منوره کي امام مالک رحمة الله عليه، په مکه مکرمه کي مسلم بن خالد رحمة الله عليه او په مصر کي الليث بن سعد رحمة الله عليه[1].

## د امام اعظم رحمة الله عليه استاذان

محمد بن يوسف الصالحي الشافعي د امام اعظم رحمة الله عليه د استاذانو شمېر څلور زره ( ۴۰۰۰ ) ښوولی دئ او ليکلي ئې دئ چي ټول تابعين وو[2].

د استاذانو په ډله کي ئې د تابعينو مشهور او لوی عالم عامر بن شراجيل الکوفي الشعبي رحمة الله عليه هم وو چي د امام اعظم رحمة الله عليه تر ټولو لوی استاذ وو او نژدي پنځه سوه صحابه رضي الله عنهم ئې ليدلي وه[3].

امام اعظم رحمة الله عليه له عطاء بن ابي رباح څخه چي نژدې دوه سوه ( ۲۰۰ ) تنه صحابه رضي الله عنهما ئې ليدلي وو هم زده کړه کړې وه[4].

---

[1] تبيض الصحيفة ص ۶

[2] عقود الجمان ص ۱۸۳

[3] تذکرة الحفاظ ۱/۲۹/۸۱

[4] تهذيب التهذيب ج ۷ ص ۲۰۰

# د امام اعظم رحمة الله علیه شاګردان

امـام اعظـم رحمة الله علیه زیـات شـاګردان درلـودل محمـد بـن یوسـف الصالحي الشافعي د عقود الجمان په ۱۸۳ صفحه کي لیکلي دي :
د امام اعظم رحمة الله علیه داسي شاګردان په برخه سوه چي د نورو امامانو نه دي په برخه سوي؛
صالحي الشافعي دخپل کتاب په پنځم باب کي لیکلي دي د امام اعظم رحمة الله علیه ځیني شاګردان چي د دده څخه ئې حدیث او فقه زده کړي وو دمکې مکرمې، مدینې منورې، دمشق، بصرې او الجزیرې اوسیدونکي وو، صالحي الشافعي په خپل کتاب کي د امام اعظم رحمة الله علیه د اته سوه (۸۰۰) شاګردانو نومونه لیکلي دي[۱].
ملا علي بن سلطان محمد القاري (ملا علي قاري) رحمة الله علیه په خپل کتاب (مناقب الامام الاعظم) کي د امام اعظم رحمة الله علیه د نژدې پنځه سوه (۵۰۰) تنو شاګردانو نومونه لیکلي دي او ویلي ئې دي چي دا مي د مناقب للکردري څخه په لنډه ول را اخیستي دي وروسته ئې لیکلي دي چي دا د امام اعظم رحمة الله علیه هغه شاګردان دي چي شمېر ئې اووه سوه دېرشو (۷۳۰) ته رسېږي دوی د خپل وخت لوی پوهان وه، د دین علم ئې له امام اعظم رحمة الله علیه څخه زده کړی وو او ترمونږ پوري ئې راورساوه ! لوی خدای جل جلاله دي د قیامت په ورځ نیکه بدله

---

[۱] عقود الجمان ص ۸۸ ـــ ۱۵۸

ورکړي. آمین !(۱).

## د حدیثو په علم کې د امام اعظم رحمة الله علیه مقام

- "خلف بن ایوب ویلي دي: خدای جل جلاله علم خپل استازي حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته ورکړ بیا ئې د هغه اصحابو رضی الله عنهم او تابعینو ته ورکړ بیا ئې امام اعظم رحمة الله علیه او د هغه شاګردانو ته ورکړنو که د چا خوښه وي په راضي دي سي که ئې نه وي خوښه خفه دي سي"
- "ابو مطیع وویل: امام اعظم رحمة الله علیه کیسه کوله چي : امیر المؤمنین ابو جعفر منصور ته ولاړم هغه را څخه و پوښتل چي: علم دي د چا څخه زده کړی دئ ؟ ما ورته وویل : له حماد څخه مي علم زده کړی دئ هغه له ابراهیم نخعي رحمة الله علیه څخه زده کړي وو، ابراهیم نخعي رحمة الله علیه له حضرت عمر، حضرت علي، حضرت عبدالله بن مسعود او حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهم څخه زده کړی وو، امیر المؤمنین راته وویل: واه–واه! دا چي له مبارکو او پاکو استاذانو دي زده کړی دي خپل علم ته دي ټینګښت ور بخښلی دئ(۲)"
- "مسعر بن کدام رحمة الله علیه وویل : له ابو حنیفه رحمة الله علیه سره مي د حدیثو په زده کړه کي سیالي کول را څخه وړاندي سو بیا مي

---

(۱) ذیل الجواهر المضیئة ص ۵۱۸ ـ ۵۵۶

(۲) تاریخ بغداد ج ۱۳ صـ ۳۳۴

په تقوی او زُهد کي سيالي ورسره پيل کړه راځخه مخکي سو بيا مي په فقه کي سيالي ورسره کوله تاسي ئې وينئ څومره را څخه مخکي دئ[1]"

- "اسرائيل وويل: نُعمان ( امام اعظم رحمة الله عليه ) ښه سړی وو کومو حديثو چي به د احکامو اړخ درلود دده پرته د بل هيچا ډېر نه وه په ياد او نه ئې د ده په څېر پلټنه پسي کول[2]."
- "امام ابو يوسف رحمة الله عليه ويلي دي: د تفسير په علم کي مي تر ابو حنيفه رحمة الله عليه لوی عالم نه دئ ليدلی او امام اعظم رحمة الله عليه په صحيح حديث تر ما ښه پوهېدی، امام اعظم رحمة الله عليه د حديثو په علتونو ، تعديل او تجريح پوه وو[3]"
- "عبدالله بن داؤد وويل :پر مسلمانانو لازمه ده چي په خپلو لمونځونو کي امام اعظم رحمة الله عليه ته دُعاوي وکړي بيا ئې د هغه حديثونو او فقهي يادونه وکړه چي امام اعظم رحمة الله عليه د مسلمانانو د ګټي اخيستلو لپاره حفظ کړي وو[4]."
- "مکي بن ابراهيم وويل : ابو حنيفه رحمة الله عليه د خپل وخت ستر عالم وو[5]"
- "حسن بن زياد وويل: امام اعظم رحمة الله عليه د څلورو زرو حديثونو روايت کړي دئ چي دوه زره حديثونه ئې له حماد

---

[1] عقود الجمان ص ۱۹۶

[2] تاريخ بغداد ۸/ ۱۳/ ۳۳۹

[3] عقود الجمان ص ۱۶۶ ـ ۱۶۸

[4] تاريخ بغداد ج ۱۳ ص ۳۳۴

[5] تاريخ بغداد ج ۱۳ ص ۳۴۵

څخه او پاته نور ئې له نورو استاذانو څخه زده کړي دي(۱) "

• "یحيٰ بن نصر بن حاجب وویل : له امام اعظم رحمة الله علیه څخه مې اورېدلي دي چې ویل ئې زما سره د حدیثو یکسونه ستهحو لږ مې د استفادې لپاره ترې را اخیستي دي(۲)"

## هغه اووه حدیثونه چې امام اعظم رحمة الله علیه ئې روایت کړی دئ

۱ـ عن ابي حنیفة رحمة الله علیه عن انس رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :

طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِیضَةٌ عَلیٰ کُلِّ مُسْلِمٍ

ژباړه: د علم طلب پر هر مسلمان فرض دئ.

۲ـ عن ابي حنیفة رضي الله عنه عن جابر بن عبد الله رضي الله عنه قال:

جاءَرجلٌ من الانصارالی النبی صلى الله عليه وسلم فقال یا رسول الله صلى الله عليه وسلم! ما رزقت ولدً ا قط ولا ولد لي فقال و این انت عن کثرة الاستغفار والصدقة یرزق بها الولد قال فکان الرجل یکثرالاستغفار قال جابر فولد له تسعة من الذکور.

ژباړه : امام اعظم رضي الله عنه د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت کوي چې یو انصاري کس رسول صلى الله عليه وسلم ته راغی او ورته وې ویل : د خدای جل جلاله رسوله ! ماته خدای جل جلاله اولاد نه دئ راکړی زه هیڅ اولاد نه لرم !رسول صلى الله عليه وسلم ورته وویل:استغفار ډېر وایه او خیراتونه کوه خدای جل جلاله به اولادونه درکړي ! هغه سړی استغفار ډېر وایه خدای جل جلاله نهه نارینه اولادونه ورکړه .

---

(۱)مناقب ابي حنیفه للمؤ فق المکي ص ۸۴

(۲)مناقب ابي حنیفه للمؤ فق المکي ص ۸۵

۳ـ انباء ابو حنيفة رحمة الله عليه قال : ولدت سنة ثمانين وحججت مع ابي سنة ست وتسعين و انا ابن ست عشرة سنة فلما دخلت المسجد الحرام رآيت حلقة عظيمة فقلت لابي حلقة من هذه ؟ قال حلقة عبدالله بن جزء الزبيدي رحمة الله عليه صاحب النبي ﷺ فتقدمت فسمعتُهُ يقول سمعت رسول الله ﷺ قال :

من تفقه في دين الله كفاآ لله همه و رزقه من حيث لا يحتسب .

ژباړه: امام اعظم رحمة الله عليه وويل : زه په اتیاهجري سنه کي و زیږېدم په شپږ نوي هجري سنه کي د پلار سره حج ته ولاړم، شپاړس کلن وم کله چي مسجد حرام ته داخل سوم، د خلکو یوه لویه ډله مي ولیده پلار ته مي وویل : دا د چا حلقه ده ؟ هغه وویل : د رسول ﷺ د صحابي عبدالله بن جزء الزبيدي رضي الله عنه حلقه ده .

زه ور مخکي سوم غوږ مي ورته ونیوی هغه وویل : ما له رسول ﷺ څخه واورېدل چي ویې ویل :څوک چي د الله جل جلاله د دین پوهه حاصلوي دده د کار خدای جل جلاله بس دئ او ده ته به الله جل جلاله د هغي لوري رزق ورکوي چي دده به ګمان هم نه وي .

۴ـ عن ابي حنيفة رحمة الله عليه سمعت عبد الله بن ابي اوفیٰ رضي الله عنه يقول سمعت رسول الله ﷺ يقول: من بنیٰ مسجداً ولو كمفحص قطاة بنى الله له بيتاً في الجنة .

ژباړه: امام اعظم رحمة الله عليه وویل :ما له عبدالله بن ابي اوفیٰ څخه واورېدل چي ویل ئې ما له رسول ﷺ څخه اورېدلي دي چي هر څوک مسجد جوړ کړي الله جل جلاله به دده لپاره په جنت کي کور جوړ کړي .

۵- عن ابي حنيفة رحمة الله عليه قال ولدت سنة ثمانين و قدقدم عبدالله بن انيس الكوفة سنة اربع وتسعين وسمعت منه و انا ابن اربع عشرة سنة سمعته يقول رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: حبک الشئ يعمه و يصمه.

ژباړه : امام اعظم رحمة الله عليه وويل :زه په اتياهجري كال كي زیږيدلی يم په څلورنوي سنه کي څوارلس کلن وم چي عبد الله بن انيس رضي الله عنه كوفي ته راغی ما څني واوريدل چي ده وويل رسول صلى الله عليه وسلم ويلي دي: ستا سره د يوه شی مينه هغه ړندوی او کڼوي.

۶- عن ابي حنيفة رحمة الله عليه قال سمعت واثلة بن الاسقع رحمة الله عليه يقول سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: لاتظهرنّ شماتة اخيک فيعافيه الله و يبتليک.

ژباړه : امام اعظم رحمة الله عليه وويل : ما له واثله بن الاسقع رضي الله عنه څخه واوريدل چي ويل ئې رسول صلى الله عليه وسلم وفرمايل :د خپل ورور عيبونه مه ښکاره کوه کيدای سي خدای جل جلاله هغه څني خلاص کړي او تا په اخته کړي.

۷- انّ ابا حنيفة صاحب الرآی رحمة الله عليه سمع عائشة بنت عجرد رضي الله عنها تقول قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : اكثر جند الله في الارض الجراد لا اكله ولا احرمه.

ژباړه : امام اعظم رحمة الله عليه وويل : ما د عجرد د لور حضرت عائشې رضي الله عنها څخه واوريدل چي ويل ئې رسول صلى الله عليه وسلم وويل :
په ځمکه کي د خدای جل جلاله لوی لښکر ملخان دي نه ئې خورم نه ئې حرام گڼم.

# په فقه کې د امام اعظم رحمة الله علیه مقام

- "وکیع بن جراح ویلي دي: په ټولو هغو کسانو کې چې زه ورسره مخ سوی یم امام اعظم رحمة الله علیه تر ټولو لوی فقیه او غوره لمونځ کوونکی وو (۱)"
- "امام شافعي رحمة الله علیه ویلي دي: که څوک غواړي چې په فقه پوه سي د امام اعظم رحمة الله علیه او د هغه د شاګردانو سره دی ملګري سي ځکه ټول خلک په فقه کې د امام اعظم رحمة الله علیه عیال (تر پالني لاندي) دي... څوک چې د امام اعظم رحمة الله علیه کتابونه نه ګوري نه په فقه پوهیدای سي او نه کمال ته رسېدای سي، امام اعظم رحمة الله علیه او وینای ئې امام شافعي رحمة الله علیه ته د منلو وړ وې (۲)"
- "یزید بن هارون ویلي دي: فقه د امام اعظم رحمة الله علیه او د هغه د شاګردانو کار دی ګواکي هغوی د دغه کار لپاره زیږیدلي دي (۳)"
- "نضر بن شمیل ویلي دي: خلک له فقهي ویده وو امام اعظم رحمة الله علیه را ویښ کړه فقه ئې ورته خُلاصه او بیان کړه. (۴)"
- عبد الله بن ابي جعفر الرازي ویلي دي: له خپل پلار څخه مي واورېدل چې ویل ئې په فقه او تقوٰی کې مي تر امام اعظم رحمة الله علیه

---

(۱) تاریخ بغداد ج ۱۳ ص ۳۴۶

(۲) عقود الجمان ص ۱۸۷

(۳) عقود الجمان ص ۱۹۴

(۴) تاریخ بغداد ج ۱۳ ص ۳۴۶

بل څوک زیات نه دئ لیدلي"[۱]

- "جعفر بن ربیع ویلي دي: د امام اعظم رحمة الله علیه سره پنځه کاله و اوسېدم تر ده مې په خاموشۍ کې بل څوک زیات ندي لیدلي خو کله چې به پوښتنه ور څخه وسوه خوله به ئې خلاصه کړه، د بهېدونکي رود غوندي به ئې بیان وکړ"[۲]

- "جریر رحمة الله علیه ویلي دي: کله چې به له اعمش څخه د باریکو مسئلو پوښتنه وسوه هغه به دغه مسئلې امام اعظم رحمة الله علیه ته لېږلې"[۳]

- "عبد الله بن مبارک رحمة الله علیه ویلي دي: که یو حدیث معلوم وي او رآیي ته اړتیا پیدا سي نو د امام مالک رحمة الله علیه، سفیان ثوري رحمة الله علیه او امام اعظم رحمة الله علیه رآیه ښه ده خو په دوی کې امام اعظم باریک بینه او لوی فقیه دئ"[۴]

- "صالحي په عقود الجمان کې ویلي دي: ابو حنیفه رحمة الله علیه لومړنی هغه څوک دئ، چې د فقهي مسائل ئې سره ټول کړي او د بابونو ترتیب ئې ورکړ وروسته مالک بن انس رحمة الله علیه د موطا په ترتیب کې د امام اعظم رحمة الله علیه متابعت وکړ؛ خو په دغه کار کې تر امام

---

[۱] تاریخ بغداد ج ۱۳ ص ۳۳۹

[۲] تاریخ بغداد ج ۱۳ ص ۳۴۷

[۳] مناقب ابي حنیفه و صاحبه للامام الذهبي ص ۱۸

[۴] مناقب ابي حنیفه و صاحبه للامام الذهبي ص ۱۹

اعظم رحمة الله عليه هيڅ څوک مخکې نه دئ[1]

## اَمْرُهُمْ شُوْرٰى بَيْنَهُمْ

ژباړه: د دوی کار په خپلو منځو کې مشوره کول وو.

- "امام اعظم رحمة الله عليه د خدای جل جلاله او د هغه د استاځي حضرت محمد صلى الله عليه وسلم په دين کې د زيار ايستلو او د مسلمانانو د خير غوښتنې لپاره خپل مذهب د شورا پر بنسټ جوړ کړ؛ امام اعظم رحمة الله عليه به يوه يوه مسئله نورو علماوو ته وړاندې کول او د هغوی نظر ونه به يې ترې غوښتل او خپل نظر به يې هم وړاندې کوی په ورځو ورځو به يې له هغوی سره مناظرې کولې او د روښانه ځراغ په څېر به يې روښانه دلايل وړاندې کول امام ابو يوسف رحمة الله عليه به د امام اعظم رحمة الله عليه هغه دلائل شمېرل چې علماوو به منل نو کله چې د مذهب اساس شورا سوه غوره مذهب ترې جوړ سو تر هغه مذهب ټينګ، صفا او په زړه پورې سو چې په يوازيوالي او خپلې رآيې جوړ سوی وي[2]"
- "اسد بن فرات وويل: د امام اعظم رحمة الله عليه د هغه شاګردانو شمېر چې کتابونه يې تدوين کړي دي څلوېښت دئ په لسو لمړنيو کسانو کې ابو يوسف رحمة الله عليه، زُفر بن هزيل رحمة الله عليه، داؤد طائي رحمة الله عليه، اسد بن عمرو رحمة الله عليه، يوسف بن خالد السمتي او يحيٰ بن

---

[1] عقود الجمان

[2] مناقب ابي حنيفه للكردري ص ۵۷

ابي زائده رحمه الله دي او پسي زياتــه ئــې کړه چي اسد بن عمرو رضي الله عنه وويل : علماوو د امام اعظم رحمه الله په وړاندي د يوې مسئلې په حکم کي بحث سره وکړ چا يو ډول چا بل ډول جواب وڼايه وروسته ئې د امام اعظم رحمه الله څخه پوښتنه وکړه امام اعظم رحمه الله ډېر ژر جواب ورکړ پداسي حال کي چي نورو علماوو به په يوه مسئله کي درې ورځي تيرولي بيا به ئې په ديوان کي ليکلې[1]"

- "الحميدي د اسحق بن ابراهيم په حواله ويلي دي چي اسحق وويل: د امام اعظم رحمه الله شاګردان به د امام اعظم رحمه الله سره د يوې مسئلې په حل بوخت وه کله چي به عافيه بن يزيد رحمه الله حاضر نه وو نو امام اعظم رحمه الله به ويل دغه مسئله تر هغو پوري مه ليکئ چي عافيه رحمه الله نه وي راغلی کله چي به عافيه رحمه الله راغی او موافق به سو امام اعظم رحمه الله به وويل دغه مسئله وليکئ که به موافق نه سو امام اعظم رحمه الله به وويل مه ئې ليکئ[2]"
- امام اعظم رحمه الله په زرګونو مسئلې تدوين کړي دي چي په شمېر کي ئې اختلاف سته خو تر ټولو کم شمېر ئې درې اتيا زره ( ۸۳۰۰۰ ) دي چي اته دېرش زره ( ۳۸۰۰۰ ) ئې په عباداتو پوري اړه لري او پاتي نوري ئې په معاملاتو پوري اړه لري[3].

---

[1] حسن التقاضي ص ۱۲
[2] حسن التقاضي ص ۱۲
[3] مناقب ابي حنيفه للکردري ص ۱۶۲

## د امام اعظم رحمة الله علیه عقلمندي او ذکاوت

• "یزید ویلي دي: داسي څوک مي نه دئ لیدلي چي تر امام اعظم رحمة الله علیه دي پوه او پرهیزګاره وي"[1]

• خارجه بن مصعب ویلي دي: د نژدې زرو ( ۱۰۰۰ ) تنو علماوو سره مي ملاقات سوي دئ چي درې ( ۳ ) یا څلور ( ۴ ) تنه ئې ډېر پوهان وو په هغو پوهانو کي یو امام اعظم رحمة الله علیه وو"[2].

## د امام اعظم رحمة الله علیه حیرانوونکي جوابونه

۱ شامي د امام ابو یوسف رحمة الله علیه څخه روایت کړي دئ چي امام اعظم رحمة الله علیه ته یو کس راغی او ویې ویل: ما خپلي ښځي ته قسم واخیست چي تر هغه وخته خبري نه در سره کوم تر څو چي تا خبري نه وي را سره کړي! هغې هم قسم واخیست چي تر هغه مهاله زه هم خبري نه در سره کوم تر څو چي تا خبري نه وي را سره کړي! اوس موږ څه وکړو؟ امام اعظم رحمة الله علیه ورته وویل: ورسه خبري ور سره وکړه قسم نه در

---

[1] تذکرة الحفاظ ج ۱ ص ۱۶۸

[2] تاریخ بغداد ج ۱۳ ص ۳۶۴

باندي اوړي !
هغه سړی سفيان ثوري رحمة الله عليه ته ورغلی دغه کيسه ئې ورته وکړه سفيان سوري رحمة الله عليه په غوسه سو امام اعظم رحمة الله عليه ته راغی ورته وې ويل : ولي خلک په حرامو کي راګيروې (اخته کوې)؟
امام اعظم رحمة الله عليه ورته وويل : دا سړی دي خپله پوښتنه د سره وکړي ! هغه سړی خپله پوښتنه د سره وکړه امام اعظم رحمة الله عليه بيا مخکنی جواب ورکړ سفيان ثوري رحمة الله عليه وويل :په کوم دليل وايې چي پر دوی قسم نه اوړي؟ امام اعظم رحمة الله عليه ورته وويل : کله چي ميړه قسم واخيست تر هغه وروسته دده مېرمني د خپل قسم اخيستلو خبري ور سره و کړې نو ميړه خو د قسم له اووښتلو څخه وژغورل سو ؛ اوس دي نو ميړه ورسي او د خپلي ښځي سره دي خبري وکړي تر څو پر هغې هم قسم وا نه وړي !
سفيان ثوري رحمة الله عليه ورته وويل: تاسي ته د علم هغه باريکی ښکاره دي چي زموږ ورته پام هم نه سته(۱).
۲ صميري په اخبار ابي حنيفه و اصحابِهِ کي د وکيع په حواله ليکلي دي چي يوه ورځ يوه ښځه امام اعظم رحمة الله عليه ته راغله او ورته وې ويل : زما ورور مړ سو ۶۰۰ درهمه ئې په ميراث پاته سوه ماته ئې يو درهم راکړ ؛ امام اعظم رحمة الله عليه ورته وويل :هغه مړي يوه مور، يوه مايښه، دوې لوڼي ، دوولس وروڼه او يوه خور چي ته ئې لرل ؟ هغې ښځي وويل هو ! امام اعظم رحمة الله عليه ورته وويل نو وېش په صحيح ډول

(۱) د امام اعظم رحمة الله عليه د ژوند حالات

سوي دئ !هغې ښځې وويل څنګه ؟
امام صاحب رحمة الله عليه ورته وويل : د ميراث دوې دريمې (۴۰۰ درهمه) د لوڼو سوې يوه شپږمه (۱۰۰ درهمه) د مور سوه يوه اتمه( ۷۵ درهمه ) د مايني سوه ۲۵ درهمه پاته سوه (۲۴ درهمه) د دوولسو ورونو سوه تاته د يوه ورور نيمه برخه يو درهم در ورسېد[1].
۳ علي بن عاصم ويلي دي چي يوه ورځ امام اعظم رحمة الله عليه ته ورغلم نايي د هغه وروښتان کوچني کول د کار په دوام کي امام اعظم رحمة الله عليه نايي ته وويل دغه سپين وروښتان وکاږه ! نايي وويل : دا ښه نه دي امام صاحب ئې سبب وپوښت نايي وويل که ئې وکاږم بيا سپين وروښتان ډېرېږي امام اعظم رحمة الله عليه ورته وويل : ښه چي داسي ده نو تور وروښتان وکاږه چي تور ډېر سي[2].
۴ امام اعظم رحمة الله عليه يو سړی امام ابو يوسف رحمة الله عليه ته واستاوه چي پوښتنه ځني وکړه چي يو کس خپلي جامې دوبي ته وروړي چي ور پرې ئې ولي څو ورځي وروسته چي ورغلی دوبي منکر سو چي تا جامې ما ته نه دي راوړي ! بل ځلي بيا هغه کس د خپلو جامو لپاره ورغلی دوبي جامې پرېولي وې او ورئې کړې اوس نو دوبي د مزدورۍ حق لري که نه ؟ که امام ابو يوسف رحمة الله عليه وويل چي حق لري ته ورته ووايه دا جواب غلط دئ که ئې وويل چي حق نلري هم ورته ووايه چي دا جواب هم غلط دئ !
هغه کس امام ابو يوسف رحمة الله عليه ته ورغلی پوښتنه ئې ځني وکړه امام

---
(۱) د امام اعظم رحمة الله عليه د ژوند حالات
(۲) د امام اعظم رحمة الله عليه د ژوند حالات

ابو یوسف رحمة الله علیه ورته وویل: د مزدورۍ حق لري هغه سړي ورته وویل جواب دي غلط دی !

امام ابو یوسف رحمة الله علیه تر څه فکر وروسته ورته وویل : حق نه لري ! هغه سړي ورته وویل دا جواب هم غلط دی امام ابو یوسف رحمة الله علیه د امام اعظم رحمة الله علیه پر خوا روان سو هلته چي ورغلی جریان ئې ورته بیان کړ امام اعظم رحمة الله علیه ورته وویل : که دوبي تر انکار کولو مخکي جامې پرېولي وي نو د مزدورۍ حق لري که ئې تر انکار وروسته پرېولي وي د مزدورۍ حق نلري ځکه د ځان لپاره ئې پرېولي دي[1].

5 د حسن بن زیاد لؤلوی بیان دئ چي یوې لیونۍ ښځي چي په اُم عمران مشهوره وه یو سړي ته وویل : اې د زناکارانو زویه ! دغه خبره قاضي ابن ابي لیلي ته ورسېده هغه وویل : ښځه دلته جومات ته حاضره کړئ ښځه ئې حاضره کړه او په مسجد کي ئې دوه حدونه پر جاري کړل چي یو حد د هغه سړي د پلار او بل حد د هغه سړي د مور د وجهي وو، کله چي امام اعظم رحمة الله علیه خبر سو و ئې ویل : ابن ابي لیلي شپږ غلطۍ کړي دي :

**لمړی:** پر لیونۍ ئې حد جاري کړي دئ حال دا چي پر لیونۍ حد نه جاري کېږي.

**دوهم :** حد ئې په ولاړه ترسره کړي دئ حال دا چي د ښځي حد په ناسته وي.

**دریم :** حد ئې په مسجد کي ترسره کړي دئ حال دا چي په

---

[1] د امام اعظم رحمة الله علیه د ژوند حالات

مسجد کي حد نه تر سره کېږي .

**څلورم** : دوه حدونه ئې جاري کړي دي حال دا چي که یو څوک یوې ډلي ته ووايي چي اې زنا کارانو ! بیا هم یو حد پر جاري کېږي .

**پنځم** : دوه حدونه ئې پرله پسې جاري کړي دي حال دا چي د دوو حدونو تر منځ باید دومره موده وي چي د لومړي حد زخمونه جوړ سي .

**شپږم** :د هغه سړي پلار او مور چي لیونی زنا کاره بللي وو حاضر نه ول حال دا چي هغوی باید حاضر وای[1]!

6 شامي دمناقب الزرنجري په حواله لیکلي دي چي: یوه ورځ امام اعظم رحمة الله علیه د کوفې په جومات کي ناست وو چي یو شیعه چي په شیطان طاق مشهور وو امام اعظم رحمة الله علیه ته راغی پوښتنه ئې وکړه چي اشد الناس (غښتلی کس په خلګو کي) څوک دئ ؟

امام اعظم رحمة الله علیه ورته وویل :ستاسي شیعه ګانو په قول حضرت صدیق رضي الله عنه دی او زموږ سُنیانو په قول حضرت علي رضي الله عنه دئ !

هغه شیعه حیران سو او ویې ویل : دا دي غلطه خبره وکړه !

امام اعظم رحمة الله علیه ورته وویل :ستاسي په قول خلافت د حضرت علي رحمة الله علیه حق وو نو چي حضرت صدیق رضي الله عنه څني واخیست دا ئې سختي (غښتلتوب) وه ! زموږ په قول خلافت د حضرت علي رضي الله عنه حق وو چي حضرت علي رضي الله عنه څني تېر سو دده خلافت ئې ومنی دا ئې د غښتیلتوب نښه وه[2]!

---

[1] د امام اعظم رحمة الله علیه د ژوند حالات

[2] د امام اعظم رحمة الله علیه د ژوند حالات

٧ صميري په اخبار ابي حنيفه و اصحابِهِ کي ليکلي دي چي اسد بن عمرو ويلي دي چي قتاده کوفې ته راغی او د ابو برده په کور کي ديره سو ويې ويل : هر څوک کولای سي چي د حلالو او حرامو اړوند پوښتني را څخه وکړي ! امام اعظم رحمة الله عليه ورغلی او ورته ويې ويل : يو سړی له خپله کوره ورک سو ښځي ته ئې وويل سوه چي هغه مړ سوی دئ، د ښځي يقين سو چي ربښتيا ئې خاوند مړ دئ بل مېړه ئې وکړ څه وخت وروسته ئې مخکنی مېړه راغی دغه مهال ښځي کوچنی وزېږوی پخواني خاوند ئې وويل دا کوچنی زما څخه نه دی او دويم مېړه ئې وويل چي زما زوی دئ ! په دې صورت کي دواړو پر ښځه تور لګولی دئ که يوازي هغه سړي ( مخکني مېړه ) تور لګولی دئ چي د هلک د زوی نيولو څخه انکار کوي ؟ ابو حنيفه رحمة الله عليه ورته وويل : که په رآی سره جواب راکړې غلط به سي او که په حديث سره جواب راکړې درواغ به ووايې ځکه په دې باره کي حديث نسته .

قتاده وويل : ايا دا صورت پېښ سوي دی ؟

امام اعظم رحمة الله عليه ورته وويل : يا نه دی پېښ سوی !

قتاده ورته وويل : چي پېښ سوی نه دئ ولي پوښتنه کوې ؟

امام اعظم رحمة الله عليه ورته وويل : عالمان د مصائبو [1] لپاره ځان تيار وي چي د مصيبت پر وخت ځان وژغوري !

قتاده وويل : دا پرېږده په تفسير کي پوښتنه را څخه وکړه !

ابو حنيفه رحمة الله عليه ورته وويل : په دې آيت شريف کي څه وايې:

---

[1] پېښو ( راتلونکو مسائلو )

قَالَ ٱلَّذِى عِندَهُۥ عِلۡمٌ مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِ أَنَا۠ ءَاتِيكَ بِهِۦ قَبۡلَ أَن يَرۡتَدَّ إِلَيۡكَ طَرۡفُكَۚ ... ﴿٤٠﴾[1]

ژباړه: هغه سړي چي د کتاب علم ورسره وو، ستا د سترګو تر وتلو (رپېدو) مخکي هغه تاته راکړئوم !.

قتاده وويل: دا سړی آصف بن برخيا وو چي د حضرت سليمان عليه السلام کاتب وو او هغه ته اسم اعظم معلوم وو !

ابو حنيفه رحمة الله عليه پو ښتنه وکړه چي ايا حضرت سليمان عليه السلام ته اسم اعظم نه وو معلوم ؟

قتاده وويل : يا سليمان عليه السلام ته ددې علم نه وو !

امام اعظم رحمة الله عليه ورته وويل : ايا د نبي په زمانه کي تر نبي لوړ عالم پيدا کيدای سي ؟

قتاده وويل :د تفسير په اړه زه ستا سره څه نسم ويلای ! په داسي مسئلو کي پو ښتنه را څخه وکړه چي علماء اختلاف پکښي لري !

ابو حنيفه رحمة الله عليه ورته وويل : ايا ته مؤمن يې؟

قتاده وويل : اَ رجُو ا يعني زه اُميد لرم !

امام اعظم رحمة الله عليه ورته وويل :ولي ؟

قتاده وويل :الله جل جلاله فرمايلي دي :

وَٱلَّذِىٓ أَطۡمَعُ أَن يَغۡفِرَ لِى خَطِيٓـَٔتِى يَوۡمَ ٱلدِّينِ ﴿٨٢﴾[2]

---

[1] نمل

[2] شعراء

ژباړه: او هغه چي زه امید لرم چي ماته به غلطي وبخښي د انصاف په ورځ !

ابو حنیفه رحمه الله علیه ورته وویل : تاسو هغه جواب ولي رانه کړ چي أَوَلَمۡ تُؤۡمِن تا یقین نه کوې ؟ حضرت ابراهیم علیه السلام په جواب کي ورته وویل :

قَالَ بَلَىٰ وَلَٰكِن لِّيَطۡمَئِنَّ قَلۡبِي ... (٢٦٠)[1]

ژباړه : ابراهیم وویل: هو ! خو تر څو زما زړه ډاډه سي.

د دې خبري په اورېدلو سره قتاده چوپ او ولاړ سو[2].

**٨** شامي د حسن بن زیاد څخه روایت رانقل کړي دئ چي یوه سړي په خپل کور کي څه مال ښخ کړي وو او بیا ئې هېر سوی وو سړی امام اعظم رحمه الله علیه ته راغی او فریاد ئې ورته وکړ.

امام اعظم رحمه الله علیه ورته وویل : دا دفقهي مسئله نه ده خو زه تا ته لار در ښیم ! ته ولاړ سه ټوله شپه لمنځونه وکړه که د خدای جل جلاله خوښه وه در یاد به سي !

سړی چي سبا راغی ویل لمونځ مي وکړ ممکن د شپې څلورمه برخه به نه وه تېره سوې چي په یاد مي سو امام اعظم رحمه الله علیه ورته وویل : زه پوهېدم چي شیطان دي نه پرېږدی چي ټوله شپه عبادت کړې! کاشکي دي ټوله شپه د الله جل جلاله په عبادت تېره کړې وای ![3].

---

[1] سورت البقره

[2] د امام اعظم رحمه الله علیه د ژوند حالات

[3] د امام اعظم رحمه الله علیه د ژوند حالات

۹ په شامي کي امام ابو الفضل کرماني د وکیع په حواله لیکلي دي چي زموږ یو همسایه د حدیثو په حافظانو کي وو هغه به د امام اعظم رحمة الله علیه په اړه کډي وډي خبري کولې؛ یوه ورځ ئې د خپلي مېرمني سره څه اختلاف پېښ سوی وو مېرمني ته ئې ویلي وو چي که تا نن شپه طلاق را څخه و غوښت او ما در نه کړنو ته طلاقه ئې!

مېرمني ئې ورته ویلي وو: که مي طلاق در څخه و نه غوښت زما غلامان دي آزاد وي!

وروسته دواړه پښېمانه سول او سفیان ثوري رحمة الله علیه ته ورغلل تر هغه وروسته ابن ابي لیلي ته ورغلل هغوی ئې د مشکل په حل کي پاته راغلل مجبور سول امام اعظم رحمة الله علیه ته راغلل امام اعظم رحمة الله علیه د دې سړي مېرمني ته وویل: ته طلاق وغواړه! هغې طلاق وغوښت بیا امام اعظم رحمة الله علیه هغه سړي ته وویل چي خپلي مېرمني ته ووایه چي ته طلاقه ئې که خوښه ئې! ښځي ته ئې وویل: ورته ووایه چي نه یم خوښه!

بیا امام اعظم رحمة الله علیه دوی دواړو ته وویل: ستاسي دواړو قسم پوره سو او س پر تاسو باندي کومه مؤاخذه نسته!

وروسته ئې هغه سړي ته وویل د هغه چا د غیبت او بد ویلو څخه خدای جل جلاله ته توبه وباسه چا چي ته علم ته ورسولې نو هغه وو چي ښځي او خاوند به تر هر لمانځه وروسته امام اعظم رحمة الله علیه ته دُعاوي کولې[1].

---

[1] د امام اعظم رحمة الله علیه د ژوند حالات

۱۰ شامي ليکلي دي : امام طحاوي رحمة الله عليه د امام ليث رحمة الله عليه څخه واورېدل چي هغه ويل : ما د ابو حنيفه رحمة الله عليه ذکر اورېدلی وو او دامي خواهش وو چي هغه ووينم ، اتفاقاً زه په مکه معظمه کي وم ما وليدل چي پر يوه سړي باندي خلک راټول دي ورنژدې سوم، يوه کس د ابو حنيفه په وينا ورږغ کړه ، زه پوه سوم چي دغه ابو حنيفه رحمة الله عليه دئ، بلونکي ورته وويل : زه مالداريم زمايو زوی دئ زه هغه ته واده وکړم پيسې مصرف کړم دی طلاق ورکړي زما ټولي پيسې راضايع کړي ! ايا زما لپاره کومه طريقه سته ؟
ابو حنيفه رحمة الله عليه ورته وويل : ته خپل زوی هغه بازار ته بوزه چي هلته وينځي خرڅېږي هلته دده د خوښي وينځه واخله د هغې وينځي نکاح د خپل زوی سره وتړه هغه به ستا په ملکيت کي وي که دي طلاق ورکړ ستا د ملکيت څخه به نه وزي ! ددې ويناتر اورېدلو وروسته ليث بن سعد رحمة الله عليه وويل : (فوالله ما اعجبني جوابه کما اعجبتني سرعة جوابه ) په الله جل جلاله مي دي قسم وي چي دده و جواب ته دومره نه يم حيران سوی لکه دده حاضر جوابۍ ته [1].

## د امام اعظم رحمة الله عليه تقوىٰ او عبادت

"مسعر بن کدام رحمة الله عليه وويل : يوه شپه مسجد ته ننوتلم يو کس پر لمانځه ولاړ وو قرائت ئې خوږ را باندي ولګېدئ ورته پاته سوم اووه سورتونه ئې وويل ما فکر وکړ چي اوس به رکوع ته ولاړ سي خو هغه

---

[1] د امام اعظم رحمة الله عليه د ژوند حالات

قرائت ته ادامه ورکړه تر څو په یوه رکعت کې ئې پوره سپاره ولوستله بیا رکوع ته ولاړ چې ورته ځیر سوم امام اعظم رحمة الله علیه وو "

"خارجه بن مصعب ویلي دي : څلورو کسانو په یوه رکعت کې ټول قرآن ختم کړی دئ هغه څلور دا دي: حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه ، حضرت تمیم الداري رضي الله عنه ،حضرت سعید بن جبیر رضي الله عنه او امام اعظم رحمة الله علیه[1]"

"ابي زاده وویل : زه امام اعظم رحمة الله علیه ته د یوې مسئلې د پوښتنې لپاره ورغلم کله چې د ماختن لمونځ ادا سو خلګ ووتل امام اعظم رحمة الله علیه پر لمانځه ودرېدی قرائت ئې وایه کله چې دغه آیت ته ورسېدئ :

فَمَنَّ ٱللَّهُ عَلَيْنَا وَوَقَىٰنَا عَذَابَ ٱلسَّمُومِ ﴿٢٧﴾[2]

ژباړه: الله جل جلاله زموږ سره احسان وکړ او د عذاب څخه ئې و ساتلو . دغه آیت ئې تکراراوه تر څو د سهار اذان وسو[3]"

"سلم بن سالم ته د مکې یوه اوسېدونکي وویل :امام اعظم رحمة الله علیه زموږ په کور کې اووه شپې تېرې کړې هیڅ ویده نه سو[4]"

"مسعر بن کدام رحمة الله علیه وویل : امام اعظم رحمة الله علیه یوه جوړه جامې را واخیستې چې پنځلس سوه درهمه بیه ئې درلوده کله چې ماختن لمونځ ادا سو امام اعظم رحمة الله علیه هغه جامې واغوستې یو چا پوښتنه

---

[1] مناقب ابي حنيفة

[2] طور

[3] مناقب ابي حنيفه

[4] مناقب ابي حنيفه

ځني وکړه چي د پاچا ليدلو ته ځې چي دومره قيمتي جامې دي واغوستلې؟ امام صاحب رحمة الله عليه ورته وويل : نه د الله جل جلاله لپاره قيمتي جامې اغوستل تر ټولو ښه دي[1]"

"حميد وويل : ما د مکې معظمې له يوه اوسېدونکي څخه پوښتنه وکړه چي تاته معلومه ده کوم کسان چي مکې مکرمې ته راغلي دي په هغو کي چا ډېر عبادت کوی ؟ هغه شخص راته وويل :امام اعظم رحمة الله عليه[2]"

"امام ابو يوسف رحمة الله عليه وويل : زه او امام اعظم رحمة الله عليه سره ملگري وو کوچنيانو امام اعظم رحمة الله عليه ته اشاره کوله او ويل ئې :هغه سړی ټوله شپه نه ويده کېږي !امام اعظم رحمة الله عليه ماته وويل: يعقوبه ! دوی پر موږ د هغه شي گمان کوي چي په موږ کي نسته نو پر ما لازمه ده چي تر مرگه به د شپې ويده نه سم[3]".

سفيان بن عينيه وويل : زموږ په زمانه کي مکې معظمې ته تر امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه پرته بل څوک ډېر لمونځ کوونکی کس نه دئ راغلی[4]"

"ابن ابي جويريه وايې : زه د امام اعظم رحمة الله عليه سره شپږ مياشتي و اوسېدم دشپې لخوا ما هغه نه دئ ليدلی چي څنگ دي ئې لگولی وي (ويده سوی خو ييخي ندی) "

---

[1] مناقب ابي حنيفه
[2] مناقب ابي حنيفه
[3] مناقب ابي حنيفه
[4] تاريخ بغداد ج ۱۳ ص ۳۵۳

"زرنجري وويل : منصور (عباسي پاچا) امام اعظم رحمة الله عليه ته يوه مينځه او څوارلس زره درهم په سوغات کي ورکړه خو امام اعظم رحمة الله عليه قبول نه کړه"
"ابو مطيع وويل: کله چي به زه په مکه مکرمه کي د شپې په هره برخه کي طواف ته ورغلم امام اعظم رحمة الله عليه او سفيان ثوري رحمة الله عليه به مي په طواف کي ليدل(۱)"

"اسد بن عمرو ويلي دي : امام اعظم رحمة الله عليه پنځه پنځوس حجونه کړي وو"
حسن بن عماره وايي : امام اعظم رحمة الله عليه سل ځله خدای جل جلاله په خوب ليدلی وو.
علي بن يزيد صلائي وايي: ما امام اعظم رحمة الله عليه ليدئ چي په يوه مياشت کي به ئې شپېته ځلي قرآن ختماوه يو ځلي به ئې د ورځي او بل ځلي به ئې د شپې قرآن ختماوه .
"ابي يحيیٰ الحماني د امام اعظم رحمة الله عليه د ځينو شاګردانو څخه نقل کوي چي امام اعظم رحمة الله عليه به د ماخستن په اوداسه د سهار لمونځ کاوه او کله چي به ئې د شپې لمونځ کوی ډيره به ئې ښکلې ډمونځ کړه"
"يزيد بن الکميت وويل : امام اعظم رحمة الله عليه له الله رحمة الله عليه څخه ډېر بېرېدئ يوه شپه علي بن حسين د ماخستن په لمانځه کي سورة زلزال

---

(۱)تاريخ بغداد ج ۱۳ ص ۳۳۴

ولوستی امام اعظم رحمه الله ئې ترشا ولاړ وو کله چې لمونځ خلاص سو خلک ووتل ما امام اعظم رحمه الله ته وکتل هغه په فکر کې ډوب وو[1]"

"القاسم بن معین وویل : یوه شپه امام اعظم رحمه الله پر لمانځه ودریدئ دغه آیت ئې پیل کړ : بَلِ ٱلسَّاعَةُ مَوۡعِدُهُمۡ وَٱلسَّاعَةُ أَدۡهَىٰ وَأَمَرُّ ﴿٤٦﴾[2]،

ژباړه: د دوی دوعدې ځای دقیامت ورځ ده هغه ورځ ډېره وېروونکې او ترخه ده .

دغه آیت ئې تکراراوه او ژړل ئې[3]"

"ابو عاصم النبیل وویل : امام اعظم رحمه الله ته د ډېر لمونځ کولو په وجه وَتَد یعني ولاړ میخ ویل کیده[4]"

"امام ابو یوسف رحمه الله وایي: امام اعظم رحمه الله منځنی ونه (قد) درلوده ، د خلکو سره ئې مینه ناکې خبرې کولې او د خبرو لهجه ئې خوږه وه "

"ابو نعیم ویلي دي : امام اعظم رحمه الله ښایسته مخ درلو د ، ښایسته جامې ئې اغوستې او عطر ئې استعمالول "

"امام مؤفق ویلي دي : امام اعظم رحمه الله پنځه ځلویښت کاله د

---

[1] تاریخ بغداد ج ۱۳ ص ۳۵۷

[2] قمر

[3] تاریخ بغداد ج ۱۳ ص ۳۵۷

[4] تاریخ بغداد ج ۱۳ ص ۳۵۴

ماخستن په اوداسه دسهار لمونځ کړي دئ "

"وکیع وویل : په پاک خدای ﷻ مي دي قسم وي چي امام اعظم رحمه الله ډېر امین (امانت ساتونکی) وو ، په زړه کي ئې خدای ﷻ ډېر لوی ګڼی، د پاک خدای ﷻ رضا ئې تر هر څه خوښه وه او که د خدای ﷻ په لار کي په تورو وهل سوی وای باک ئې نه کاوه[1]"

"یحيٰ بن ایوب زاهد وویل : امام اعظم رحمه الله د شپې نه بیدېدی"

"مکي بن ابراهیم وویل : د کوفیانو سره اوسېدلی یم خو د امام اعظم رحمه الله په څېر پرهېزګاره مي نه دی پکښي لیدلی[2].

امام مؤفق ویلي دي : امام اعظم رحمه الله یوازي پر هغه ځای اووه زره واره قرآن ختم کړي دئ د کوم ځای څخه چي بندیخانې ته بېول سوي وو "

عبدالله بن مبارک هم امام اعظم رحمه الله زیات پرهېزګار بللی دئ[4].

"یحيٰ القُطان وویل :د امام اعظم رحمه الله سره کښېناستلی یم د هغه خبري مي اورېدلي دي په خدای ﷻ قسم چي کله به مي ورته وکتل په مخ کي به ئې د خدای ﷻ څخه د بېري نخښي وې[3]. عبدالله بن مبارک و سفیان ثوري رحمه الله ته وویل : یا آباعبدالله ( د عبدالله پلاره ) ! ابوحنیفه رحمه الله ډېر له غیبته ځان ساتي ان چي د دښمن غیبت مي هم نه دئ څني اورېدلی !

---

[1] تاریخ بغداد ج ۱۳ ص ۳۵۸

[2] تاریخ بغداد ج ۱۳ ص ۳۵۸

[3] تاریخ بغداد ج ۱۳ ص ۳۵۹

[4] تاریخ بغداد ج ۱۳ ص ۳۵۲

سفیان ثوري رحمة الله علیه ورته وویل : په خدای جل جلاله قسم چي هغه په دې پوهېږي چي په غیبت کولو ئې نېکي له منځه ځي[۱]"
د عبدالله بن مبارک رحمة الله علیه په مخ کي د امام اعظم رحمة الله علیه یادونه وسوه ابن مبارک رحمة الله علیه ورته وویل : د هغه شخص په اړه به څه وویل سي چي دنیا او مالونه ورته وړاندي سوه ده و غورځول، په چلاخو و وهل سو ده صبر پر وکړاو هغه کار (قضا) ئې قبول نه کړ چي خلک ئې په خوله غواړي[۲].
ابن عبدالبر په خپل کتاب کي د هغه نامتو پوهانو نومونه لیکلي دي چي د امام اعظم رحمة الله علیه ستاینه ئې کړې ده چي دا په لنډ ډول د امام اعظم رحمة الله علیه لوړ شان ښیي ·
"حکم بن هشام الثقفي وویل : امام اعظم رحمة الله علیه امانت ساتونکی وو پاچا وغوښتل چي امام اعظم رحمة الله علیه دي د خزانې کیلی قبولي کړي یا دي پر شا ووهل سي ! امام اعظم رحمة الله علیه ددوی عذاب د الله جل جلاله تر عذاب غوره وباله[۳]"
ابن شیرمه ویلي دي : ښځي ددې وس نه لري چي د امام اعظم رحمة الله علیه غوندي زامن وزېږوي ·
"حسن بن صالح وویل : ابو حنیفه رحمة الله علیه ډېر پرهېزګاره وو د حرامو څخه ډېر بېرېدی ، حلال ئې د شبهې په وجه پرېښوول په فقهاوو کي مي بل داسي شخص نه دئ لیدلی چي تر امام اعظم رحمة الله علیه دي ئې د

---
[۱] تاریخ بغداد ج ۱۳ ص ۳٦۳
[۲] عقود الجمان ص ۲۳۹
[۳] عقود الجمان ص ۲۴۳

خپل علم او ځان ساتنه ډېره کړې وي او امام اعظم رحمة الله عليه د قبر لپاره پوره تیاری درلود[۱]"

## د امام اعظم رحمة الله عليه خويونه

المعافي بن عمران الموصلي ويلي دي : په امام اعظم رحمة الله عليه کي لس داسي خويونه موجود وه که په بل چا کي يو موجود وي د خپل قوم رئيس به وګڼل سي هغه خويونه دادي: تقوی، رښتينولي، سخا، فقه ، د خلګو سره اړيکي ، صداقت، ميړانه ، د دوست او دښمن سره مرسته کول ، اوږده چوپتيا او حقه وينا[۲].

"مجاهد رحمة الله عليه وويل : زه د هارون رشيد سره ناست وم چي امام ابو يوسف رحمة الله عليه راغی هارون رشيد ورته وويل : د امام اعظم رحمة الله عليه د اخلاقو بيان راته وکړه ! امام ابو يوسف رحمة الله عليه وويل : والله هغه له حرامو څخه ډېر ځان ساتی ، له شتمنو خلګو څخه لېري اوسېدی ، خبري ئې لږ کولې، فکر ئې ډېر کوی، ډېري او بې ګټي خبري ئې نه کولې خو که به د کومي مسئلې پوښتنه ځني وسوه جواب ئې ورکوی؛ آمير المؤ منيه ! زه خبر يم چي هغه د ځان او دين ساتنه کول او څوک ئې په بدو نه يادول "

"هارون رشيد وويل : دا ټول د ښو خلګو خويونه دي[۳]"

"قاضي فضيل بن عياض رحمة الله عليه وويل : امام اعظم رحمة الله عليه فقيه عالم

---

[۱] عقود الجمان ص ۲۳۹

[۲] مناقب ابي حنيفه

[۳] مناقب ابي حنيفه وصاحبيه للحافظ الذهبي ص ۹

وو، په تقوی کي مشهور وو، شتمني ئې ډېره وه، پر هر چا چي به ئې رحم راغی مرسته به ئې ور سره کوله، د شپې او ورځي به ئې ښوونه کوله، خبري ئې لږ کولې، د حلال او حرام په مسئله کي ئې د حق ښوونه کوله او د پاچاهانو مال ئې نه اخيستی[1]"

"قاضي شريک وويل: امام اعظم رحمة الله عليه ډېر هوښيار شخص وو د خلګو سره ئې جنجال نه کوی، خبري ئې لږ کولې، زيات فکر ئې کوی، د فقهي په مسئلو کي ئې ډېر ژور نظر کوی، په علم، عمل او بحثونو کي ډېرو باريکيو ته متوجه کېدی، پر ښوونه ئې صبر کوی که به شاګرد اړ (محتاج) وو د هغه شاګرد او کورنۍ خرڅ به ئې ورکاوه تر څو هغه په ډاډ زده کړه وکړي؛ کله چي به شاګرد علم حاصل کړ امام اعظم رحمة الله عليه به ورته وويل: حلال او حرام دي وپېژندل اوس دي لويه شتمني په برخه سوه[2]"

محمد بن محمود الخوارزمي په مسند امام اعظم رحمة الله عليه کي ليکلي دي چي د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه عجيب شان وو هغه هيڅکله د چا غيبت نه کاوه او نه ئې د چا بد بيانوله[3].

د احمد بن محمد المديني څخه روايت دئ چي امام اعظم رحمة الله عليه به خپله مور د عمرو بن ذر رحمة الله عليه مجلس ته حاضروله هغې هلته تراويح کولې تر هغه ځايه پوري دوولس کيلو متره لاره وه[4].

---

[1]. تاريخ بغداد ج ۱۳ص ۳۴۰

[2]عقود الجمان ص ۲۰۶

[3]مسند امام اعظم

[4]مناقب ابي حنيفه

# د امام اعظم ورځنۍ او ماښامنۍ بوختیاوي

"امام زُفر وویل : ماد امام اعظم رحمة الله عليه سره تر شلو کلونو زیات ژوند تېر کړ پر خلګو ډېر مهربان وو ، زړه سواند او ګټه رسوونکی وو ، د خدای جل جلاله په لار کي ئې خپل مال مصرفوی ، ټوله ورځ به ئې په علمي مسئلو او ښوونه تېرول ، کله چي به له درسونو څخه فارغ سو د ناروغ پوښتني ته ورتلی ، د جنازې لمانځه ته تلی ، له بې وزلو سره ئې مرسته کوله ، له خپلوانو سره ئې ملاقات کاوه ، کله چي به شپه سوه ځان به ئې عبادت ته فارغ کړ نفلونه ئې کول، د قرآن شریف تلاوت ئې کوی تر څو په دغه لار کي وفات سو[1]" الله جل جلاله دي پرې ورحمېږي

# د امام اعظم د امامت لوړ مقام

"امام ابو داؤد السجستاني ویلي دي:
خدای جل جلاله دي پر امام مالک رحمة الله عليه ورحمېږي لوی امام وو .
خدای جل جلاله دي پر امام شافعي رحمة الله عليه ورحمېږي لوی امام وو .
خدای جل جلاله دي پر امام اعظم رحمة الله عليه ورحمېږي لوی امام وو[2]"
"عبدالله بن مبارک رحمة الله عليه وویل :هیڅ څوک د امام اعظم رحمة الله عليه په څېر د پیروۍ وړ نه دئ هغه لوی امام وو ، پرهېزګاره وو ، له شبهاتو

(۱) عقود الجمان ص ۲۰۸
(۲) الانتقاء لابن عبد البر ص ۳۲

ثخه ئې ځان ساتی، لوی عالم او په فقه پوه وو، علم ئې په ډېري ځېر کتیا او بصیرت سره تشریح کاوه[۱]"

"مسعر بن کدام وویل: که څوک د ځان او خدای ﷻ ترمنځ امام اعظم رحمه الله واسطه (د ځان مقتدا) کړي زه اُمید لرم چي هیڅکله به د خوف (بېري) سره مخ نه سي[۲]"

"یحيٰ بن معین وویل: درواغ نه وایم ما د امام اعظم رحمه الله تر رایي ښه رآیه نه ده اورېدلې او دده په ډېرو قولونو مي عمل کړی دئ[۳]"

"یحيٰ بن معین وویل: یحيٰ بن سعید د کوفیانو په قول فتویٰ ورکوله د کوفیانو په منځ کي ئې د امام اعظم رحمه الله قول غوره باله او د امام اعظم رحمه الله پر قول ئې فتویٰ ورکوله[۴]"

"یحيٰ بن معین وویل: تر وکیع مي لوی عالم نه دئ لیدلی مخ پر قبله به کښېناستی حدیثونه به ئې یادول، د شپې لمنځونه به ئې کول او دوامداره روژې به ئې نیولي د امام اعظم رحمه الله ثخه ئې ډېري مسئلې اورېدلي وې، فتویٰ ئې د امام اعظم رحمه الله پر قول ور کوله[۵]"

"یحيٰ بن معین وویل: د حمزه قرائت او د امام اعظم رحمه الله فقه مي ډېره خوښه ده او نورو خلګو هم همداسي کول[۶]"

---

[۱] مناقب ابي حنیفه للکردري ص ۴۶

[۲] تاریخ بغداد ج ۱۳ص ۳۳۹

[۳] تاریخ بغداد ج ۱۳ص ۳۴۵

[۴] تاریخ بغداد ج ۱۳ص ۴۷۰

[۵] تاریخ بغداد ج ۱۳ص ۳۷۰

[۶] تاریخ بغداد ج ۱۳ص ۳۴۱

# د امام اعظم رحمة الله عليه سخاوت ، محدثينو او طالبانو ته د لګښت ور کول.

امام اعظم رحمة الله عليه د تهو کرانو تجارت کاوه قيس بن ربيع د امام اعظم رحمة الله عليه د خولې څخه کيسه کوله چې امام اعظم رحمة الله عليه به تجارتي مالونه بغداد ته لېږل نور تجارتي سامانونه به ئې پرې اخيستل او کوفې ته به ئې وړل ؛ د يوه کال ګټه به ئې د بل کال د ګټې سره يو ځای کوله بيا به ئې د حديثو د استاذانو لپاره خواړه، جامې او نور د ضرورت وړ شيان په رانيول او پاته پيسې به ئې نقدي ور کولې او ورته وبه ئې ويل: خپل نور ضرورتونه په پوره کړی! د خدای جل جلاله څخه پرته د بل چا ستاينه مه کوی ځکه ما د خپل مال څخه هيڅ شی، نه دئ درکړی بلکې د خدای جل جلاله له هغې روزی څخه مې درکړی چې ستاسې لپاره ئې پر ما لازمه کړې ده ؛ په خدای جل جلاله قسم چې خدای جل جلاله دغه مال ستاسي لپاره زما په لاس ګټلی دئ[۱].

"عبدالله الدوسي وويل :امام اعظم رحمة الله عليه خپل زوی حماد رحمة الله عليه ته امر کړی وو چې هره ورځ د لسو درهمو ډوډی رانيسي او پر همسايه ګانو ئې وويشی[۲]"

"شقيق بن ابراهيم وويل : زه او امام اعظم رحمة الله عليه سره ملګري وو په لاره کې يو سړي زمونږ څخه ځان پټ کړ امام اعظم رحمة الله عليه هغه را وغوښت او پوښتنه ئې ترې وکړه چې ولې پټ سوې ؟ هغه وويل :

---

[۱] تاريخ بغداد ج ۱۳ص ۳۶۰
[۲] مناقب ابي حنيفه

ستا پر مالس زره درهم باندي دي زه ئې د اداکو لو و مو ځکه پېټ سوم.

امام اعظم رحمة الله عليه ورته وويل : سبحان الله هغه مي ټوله در بخښلي دي خو ته د پټېدلو ټول تکليفونه را معاف کړه(۱)"

"يوسف بن خالد السمتي وويل : امام اعظم رحمة الله عليه ته زر جوړې څپلۍ په سوغات کي ورکړل سوې يوه ورځ وروسته امام اعظم رحمة الله عليه خپل زوی ته په بازار کي څپلۍ اخيستې چا پوښتنه ځني وکړه چي هغه د سوغات څپلۍ دي څه کړي ؟ امام اعظم رحمة الله عليه ورته وويل :رسول صلى الله عليه وسلم ويلي دي : که يو چا ته شی ډالۍ سو د مجلس خلک ورسره شريک دي نو ځکه هغه څپلۍ مي د ملګرو په منځ کي د قيمت په تناسب ووېشلې(۲)"

"امام حلبي ويلي دي :کله چي به بازار ته نوې لنده مېوه راوړه سوه نو امام اعظم رحمة الله عليه به د خپل کور د غړو او د حديثو دا ستاذانو لپاره واخيسته خو اُستاذانو ته به ئې د خپل کور تر برخي زياته ورکول (۳)"

"حفص بن حمزة القرشي وويل :ابو حنيفه (امام اعظم) رحمة الله عليه داسي شخص وو چي يو ګړی به څوک ورسره کښېناست کله چي به هغه ولاړ سو امام اعظم رحمة الله عليه به ئې د حال پوښتنه کوله که به مسکين وو مرسته به ئې ور سره کوله که به ناروغ سو پوښتني ته ورتلی تر څو په

---

(۱)مناقب ابي حنيفه

(۲)مناقب ابي حنيفه

(۳)مناقب ابي حنيفه

دې ډول به سره دوستان سول [۱]"

"قيس بن ربيع وويل : امام اعظم رحمة الله عليه پرهېزګار ، فقيه او د ستايلو وړ انسان وو ډېر دوست پالونکی وو د خپلو ملګرو او د هغو کسانو سره چي ده ته ئې پناه وړي وای ډېره همکاري او مرسته کوله [۲]"

## د امام اعظم رحمة الله عليه وفات:

- "خطيب او ابو محمد الحارثي وويل: ابو جعفر المنصور پاچا امام اعظم رحمة الله عليه د کوفې څخه بغداد ته را وغوښت تر څو د قاضي القُضّاة منصب ور وسپاري خو امام اعظم رحمة الله عليه ونه منی پاچا امر وکړ چي بندي ئې کړئ ! هره ورځ به ئې په بازار ګرځوی ناري به ئې پر وهلې او دومره سخت به ئې وواهه چي ويني به ئې پر پونډيو بهېدلې بيرته به ئې محبس ته راوست خوراک او چيښاک به ئې لږ ورکوي پر بدن ئې د وهلو نښې وې لس ورځي دغه وضعيت دوام وکړ کله چي وهل زيات سوه امام اعظم رحمة الله عليه ډېري دُعاوي کولې او له دې امله به ئې ژړل چي دده به ډې مور به دده له بد حالت څخه څومره غمجنه وي؟

تر دې وروسته پنځه ورځي نور ژوندی وو بيا وفات سو [۳]. الله جل جلاله

---

[۱] تاريخ بغداد ج ۱۳ ص ۳۶۰

[۲] تاريخ بغداد ج ۱۳ ص ۳۶۰

[۳] مناقب ابي حنيفه

دي ترې راضي سي"

.......إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيۡهِ رَٰجِعُونَ ﴿١٥٦﴾ بقرة

- "ابو محمد الحارثي له نعيم بن يحي څخه روايت کوي چي امام اعظم رحمة الله عليه په زهرو ووژل سو"
- "ابو حسان الريادي وايي: امام اعظم رحمة الله عليه چي کله د مرګ په نبنو پوه سو نو پر سجده سو او د سجدې په حال کي ئې ساه ورکړه"

- خطيب وويل: سمه خبره داده چي امام اعظم رحمة الله عليه په بنديخانه کي وفات سو [1].

د ټولو علماوو پر دې اتفاق دی چي امام اعظم رحمة الله عليه په ۱۵۰ هجري کي وفات سو [2].

- "اسماعيل بن سالم البغدادي وويل: امام اعظم رحمة الله عليه د قضا د نه منلو په وجه ووهل سو"

"امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه چي به کله دغه بيان کاوه ژړل به ئې ځکه امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه هم وهل سوی وو [3]"

د امام اعظم رحمة الله عليه په وېر کي يو شاعر درې ورځي مکرر دغه بيتونه لوستل:

---

[1] تاريخ بغداد ج ۱۳ ص ۳۲۸

[2] عقود الجمان ص ۳۵۷

[3] تاريخ بغداد ج ۱۳ص ۳۲۷

ذَهَبَ الْفَقَهْ فَلاَ فَقِهْ لَكُمْ

ژباړه: فقه ولاړه تاسي فقه نلرى !

فَا تَّقُوْ اللهَ وَ كَوّ نُوْ ا خَلَفاً

له خدایه ﷻ وبېرېږئ دهغه (ابو حنیفه) ځای ناستی وټاکئ !

مَاتَ نعمَانْ فَمَن هٰذَ الّذِى يُحىِ اللّيلِ اِذَا سَجَفاً

نعمان رحمة الله عليه مړ سو هغه څوک دئ چي دغه توره شپه رڼا کړي ! ؟

د امام اعظم رحمة الله عليه جنازې ته نژدې پنځوس زره ۵۰۰۰۰ کسان حاضر سوي وو.

# خپلو شاګردانو ته د امام اعظم رحمة الله عليه وصیتونه

- د الله ﷻ څخه ېېره، د امانت ادا کول، عامو او خاصو خلکو ته نصیحت کول پر تا لازم دي.
- د خپل بدن غړي د ګناه څخه ساته، د خدای ﷻ څخه بېره او د هغه ﷻ امرونه منل د الله ﷻ عبادت دئ.
- د الله ﷻ ذکر ډېر کوه او پر رسول ﷺ زیات درودونه وایه.
- هره ورځ د قرآن کریم تلاوت کوه ثواب ئې رسول ﷺ، مور، پلار استاذانو او ټولو مسلمانانو ته لیږه.
- د علم په مجلس کي د قهر او غصې څخه ځان ساته.

- د بزرګانو زيارتونو او سپېڅلو ځايونو ته دپر ځه .
- که د يو شي و پوهي ته اړ ئې ناپوه مه پاتېږه .
- دهغه چا سره ژوند مه کوه چې ديني يا دنيوي اړتيا نه ورته لري .
- د الله ﷻ پر درکړي رزق ، مال او مرتبې قناعت کوه .
- د خپلو کارونو لپاره ښه تصميمونه نيسه تر څو خلګو ته اړ نه سي .
- د خلګو په وړاندي ځان مه سپکوه .
- بې ګټې کارونه او بې ګټې خبري مه کوه .
- لومړی علم حاصل کړه بيا حلال مال و ګټه، وروسته واده وکړه که د زده کړي پر مهال په مال ګټلو بوخت سوې بيا زده کړه نسي کولای په پلورلو او پيرودلو به اخته سي ، تر زده کړي مخکي واده مه کوه ځکه وخت دي ضائع کېږي د اولادونو د اړتياوو پوره کولو ته مجبوره کېږې چې بيا به هم زده کړه در څخه پاته وي او هم پيسې .
- تر هغه وخته واده مه کوه تر څو دي باور نه وي چې د واده ټولي اړتياوي پوره کولای سم .
- د خپلي مېرمني سره د اړتيا پرته خبري مه کوه.
- دوې مېرمني په يوه کور کي مه مېشتوه .
- د خپلي ښځي په مخ کي د پرديو ښځو خبري مه کوه ځکه د خبرو ازادي تر لاسه کوي کېدای سي چې بيا

ستا مېرمن د پردیو نارینه وو خبري وکړي .

- د عامو خلګو په مخکي بې ضرورته خبري مه کوه تر څو چي ئې پوښتنه نه وي در څخه کړې که ئې پوښتنه در څخه وکړه د سوال په تناسب جواب ورکوه نور څه مه په ګډوه .
- که لس کاله د کار او کسب څخه بې برخي سې د علم څخه مخ مه اړوه که دي د علم څخه مخ واړوی ژوند به دي تنګ سي ځکه الله ﷻ فرمایلي دي :

وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِى فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةً ضَنكًا ... ﴿١٢٤﴾[1]

چاچي زما د ذکر څخه مخ واړوی ژوند به ئې تنګ سي.

- څوک چي ستا څخه پوهه تر لاسه کوي د اولاد په څېر ئې ګڼه چي د پوهي سره ئې مینه ډېره سي .
- د حق په ویلو کي د چا د قدرت او رتبې پروا مه کوه که څه هم پاچا وي .
- د عامو خلګو په مخکي د کوچنی او لويې خندا څخه ډډه کوه .
- بازارته د ډېر تللو څخه ځان ساته .
- د ښځو سره ډېري خبري او ناسته ولاړه مه کوه ځکه د دوی سره ډېر ارتباط زړه وژني .
- د لغړزنو هلکانو سره خبري مه کوه ځکه د فتنې بيره ده

خو د کوچنیو هلکانو سره خبري کول یاد هغوی پر سر لاس تېرول پروا نه لري .

- پر لاره او د و کانونو باندي مه کښېنه که ناستي ته اړ سوې په مسجد کي کښېنه .
- په بازارونو او مسجدونو کي خوراک مه کوه .
- لوړ قیمته جامې، د ښکلا شیان او وربښم مه استعمالوه ځکه لويې او کبر ته دي کشوي .
- په ارامتیا او سکون سره تګ کوه او په کارونو کي تلوار مه کوه .
- که څوک د شا له لوري ناره درپسي وکړي جواب مه ورکوه ځکه په حیوانانو پسي د شا له لوري ږغ کېږي .
- کله چي خبري کوې ډېري ناري مه وهه او اواز مه لوړوه.
- د خلګو تقلید په نا سمو کارونو کي مه کوه په غوره کارونو کي د خلګو تقلید کوه.
- که دي په یو چا کي بدي ولیده مه ئې بیانوه بلکي د خیر لپاره ئې کوه خو که ئې بدي په دیني چارو کي وه خلګو ته ئې وښیه چي خلګ ئې تقلید ونه کړي او ځان ئني وساتي ځکه رسول ﷺ فرمایلي دي: اذکر الفاجر بمافیه کی یحذره الناس .

ژباړه: د فاجر انسان بدي بیان کړی دد ې لپاره چي خلګ ځان ځني وژغوري .

- مرګ په یاد لره، د استاذانو او هغه چا لپاره د څښتن تعالی ﷻ څخه مغفرت غواړه چې د دین پوهه دې ورڅخه حاصله کړې وې.
- د دین او سمې لارې د دعوت پرته د ناسمو خلکو سره مه کښېنه.
- که دې د همسایه څخه ناسم کار ولیدی پټ ئې کړه ځکه دا ستا سره امانت دئ او د نورو خلکو پټ حالت مه ښکاره کوه.
- که څوک په یوه کار کې مشوره درڅخه وغواړي ښه مشوره ورکوه ځکه دغه کار دې خدای ﷻ ته نژدې کوي زما دغه وصیت ومنه د دنیا او آخرت ګټه دې پکښې سته.
- د شریفو خلکو عزت کوه، د علماوو درنښت کوه، د سپین ږیرو احترام کوه، د ځوانانو سره نرمي کوه، د عامو خلکو سره نژدې اوسه، د ناسمو خلکو سره خوا خوږي کوه، د غوره خلکو سره ملګري کوه.
- پاچا په بد نامه مه یادوه.
- د هیڅ چا سپکاوی مه کوه.
- د چا په اندېوالی باور مه کوه تر څو چې دې ازمویلی نه وي.
- د بې غیرته سړي سره اشنایې مه کوه.
- د ناسمو شیانو سره مینه مه کوه.

- د بې عقلانو سره آزاد ژوند مه کوه.
- ګذاره او صبر کوه.
- برداشت لرونکی او د ښو اخلاقو څښتن اوسه.
- پاکې جامې اغونده او خوشبويي ډېر استعمالوه.
- خادمان او تر لاس لاندې کسان تعقيبوه او د هغوی په تاديب کې سستي مه کوه او په دې لاره کې د نرمۍ څخه کار اخله د ډېري سزا او سختۍ څخه کار اخيستل بې نتيجې دي پر لمونځونو ئې پابند وه لازم خوراک ورکوه ځکه بخيل سړی سالاري نسي کولای.

د بخالت څخه ځان وساته ځکه بُخل دي د خلګو په وړاندې رسوا کوي.

- خلګو ته طمع مه کوه، په خبرو کې دروغ مه وايه، په ګډوډو کارونو مه اخته کېږه او په هر کار کې خپله ميړانه وساته.
- دښتمن زړه څښتن اوسه، لږ حرص کوه، د دنيا سره لږ مينه کوه او ځان شتمن ښيه که څه هم نادار ئې.
- همتناک اوسه ځکه د چا چې همت ټيټ وي د هغه شخصيت ټيټېږي.
- کله چې پر لاره ځې چپه او راسته خوا ته مه ګوره بلکې مخامخ ګوره.
- که په يوه قوم کې اوسېږې تر هغو پوري په لمانځه کې مه مخکې کېږه تر څو پوري چې دوی دې د عزت په

ځیر مخکې نه کړي.

- هر وخت سپین کالي اغونده.
- د عامو خلکو په وړاندې کیسې مه کوه ځکه په کیسه کولو کې دروا غو ته اړ کیږې.
- که څوک ستاسره ملاقات کوي که ئې نه کوي ته ورسره ملاقات کوه.
- که څوک نېکي در سره کوي که بدي درسره کوي ته نېکي ور سره کوه.
- که دې د ملګرو څخه څوک ناروغ سي خپله پوښتنه پر کوه.
- که دې د ملګرو څخه څوک ورک سي د هغه لټون کوه.
- که څوک ظلم درسره کوي ته ښه ورسره کوه.
- که چا ته خوشحالي پېښه سوه ګډون ورسره کوه.
- که چا ته غم ورسېدی تسلیت ور کوه.
- که چا د همکارۍ غوښتنه در څخه وکړه همکاري ور سره وکړه.
- تر وسه د خلکو سره محبت څرګندوه، خبري ور سره کوه ځکه دغه کار دوی ستا محبت ته اړ باسي نو د علم لړۍ به دې تل روانه وي کله کله دوډۍ ور سره خوره د دوی بدي کړني په یاد کې مه ساته.
- که څوک مسئله در څخه و پوښتي په اسانه طریقه ئې پوه کړه.

- خلګوتـه روښـانه او ښـکاره شیان ښـیه دقیـق او پټ شیان مه ورته ښیه.
- کله چې د چاسره مخ سې په سلام ویلو کې لمړیتوب کوه، غوره خبرې ور سره کوه د نېکو خلګو سره مینه کوه او د بدو خلګو سره ګذاره کوه.
- د ملګرو د شر څخه تر دښمن ځان ډېر ساته ځکه کله چې په خلګو کې فساد ډېر سي دښمن به دې تر ملګري ګټور وي.
- پټ حالات، خپله سرمایه، کړنلاره او د تګ لوري خلګو ته مه ښیه.
- د همسایه سره ښه ګذاره کوه او د هغه لخوا تکلیفونه زغمه.

د اهل السنة والجماعة مذهب ټینګ و نیسه د ناپوهانو او ګمراهانو څخه لېرې سه»[1].

---

[1] د امام اعظم رحمه‌الله علیه وصیتونه

# حضرت امام ابو يوسف الانصاري رحمة الله عليه

حضرت امام ابو يوسف الانصاري رحمة الله عليه د ابراهيم الانصاري زوی په ۱۱۳ هـ ق کال کي دمديني منورې په يوه نيستمنه کورنۍ کي زېږېدلی او په ۱۸۲ هـ ق کال کي وفات سوی دئ.

نوم ئې يعقوب وو په کوفه کي اوسېدی ډېر بااستعداده انسان وو او د خپلي ناداری سره سره ئې د علم او پوهي سره ډېره مينه درلوده؛ د هشام بن عُروه، ابو اسحاق الشيباني او عطاء بن سائب څخه ئې زده کړي کړي دي او نهه کاله ئې د قاضي ابن ابي ليلي سره د علم د حاصلولو لپاره تېر کړه؛ يوه ورځ د خوښۍ په مراسمو کي د ابن ابي ليلي سره يو ځای حاضر سو کله چي تر نکاح تړلو وروسته شيريني (خوږې) وشيندل سوې امام ابو يوسف رحمة الله عليه يو څه شيريني واخيستله ابن ابي ليلي په غوسه ورته وويل: دغه اخيستنه حرامه ده! امام ابو يوسف رحمة الله عليه امام اعظم رحمة الله عليه ته ورغلی ددې مسئلې پوښتنه ئې څني وکړه امام اعظم رحمة الله عليه ورته وويل: رسول صلى الله عليه وسلم د يوه انصاري په واده کي ګډون وکړ کله چي شيريني وشيندل سوه رسول صلى الله عليه وسلم وويل: دغه شيريني چور کړئ! نو د شيريني اخيستل پروا نه لري؛ تر دې واقعې وروسته امام ابو يوسف رحمة الله عليه د امام اعظم رحمة الله عليه شاګرد سو؛ کله چي امام اعظم رحمة الله عليه ته د امام ابو يوسف رحمة الله عليه نيستي څرګنده سوه د هغه د کورنۍ لګښت ئې ورکاوه نو ځکه امام ابو يوسف رحمة الله عليه په ډاډه زړه خپل علم حاصلوی تر څو نامتو

عالم او ل ن محدث ور ځني جوړ سو، محمد بن حسن الفقيه، امام احمد ن حنبل رحمة الله عليه، بشر بن وليد، يحيٰ بن معين، علي بن جع ، علي بن مسلم طوسي، عمرو بن ابي عمرو او نور د حضرت ام ابو يوسف رحمة الله عليه د شاګردانو څخه دي.

عباس د يحيٰ بن معين څخه روايت کوي چي ابو يوسف رحمة الله عليه د حديثو ښبتن وه[1].

ابن حبان ليکلي دي چي امام ابو يوسف رحمة الله عليه د اعتماد وړ استاذ وو[2].

ابو يوسف رحمة الله عليه فقيه، عالم، حافظ او د حديثو په يادولو کي مشهور وو د احاديثو استاذ ته به ورغلی پنځوس يا شپېته حديثونه به ئې په ياد کړه بيا به ولاړ خلکو ته به ئې له ياده تدريسول او ډېر حديثونه ئې ياد وو[3].

"امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه وويل: حديث مي لومړی د امام ابو يوسف رحمة الله عليه څخه زده کړه، بيا مي د نورو خلکو څخه زده کړه، وروسته مي وليکل[4]"

"ابو داؤد بن رشيد وويل: که امام اعظم رحمة الله عليه د امام ابو يوسف رحمة الله عليه پرته بل شاګرد نه درلودای د افتخار کولو لپاره ئې کافي وو[5]"

---

[1] تذکرة الحفاظ للذهبي ص ۲۹۲
[2] کتاب الثقات ج ۷ ص ۶۴۵
[3] الانتقاء لابن عبد البر ص ۱۷۲
[4] تاريخ بغداد ج ۱۴ ص ۲۵۵
[5] حسن التقاضي ص ۱۵

امام ابو یوسف رحمة الله علیه د امام اعظم رحمة الله علیه سره او ولس کاله واوسېدی بیله ناروغی هیڅ کله د امام اعظم رحمة الله علیه څخه بیل نه سو؛ یوه ورځ ئې زوی مړ وو جنازې ته له دې بېرې ورنه غلی چې د امام اعظم رحمة الله علیه سبق ور څخه تېر نه سي[1].

"هلال بن یحيٰ وویل: ابو یوسف رحمة الله علیه د تفسیر علم، غزاګاني او دعربو مشهوري ورځي یادي (حفظ) کړي وې خو د فقهي پوهه ئې کمه وه[2]"

"یحيٰ بن خالد وویل: امام ابو یوسف رحمة الله علیه راغی ر ټولو لږ علم ئې په فقه کي درلود او حال دا چي په فقه ئې ټوله نړۍ ډکه کړه[3]"

د المزني (د امام شافعي رحمة الله علیه شاګرد) څخه یو چا پوښتنه وکړه چي د امام اعظم رحمة الله علیه، امام ابو یوسف رحمة الله علیه، امام محمد رحمة الله علیه او امام زُفر رحمة الله علیه په اړه څه وایې؟ هغه ورته وویل: امام اعظم رحمة الله علیه د علماوو د سر سړی دئ، امام ابو یوسف رحمة الله علیه د حدیثو زیات تابع دئ، امام محمد رحمة الله علیه د احکامو په تخریج کي بر لاسي دئ او امام زُفر رحمة الله علیه په قیاس کي ډېر پیاوړي دئ[4].

"صالح بن محمد وویل: د امام ابو یوسف رحمة الله علیه شان معلوم وو، فضیلت ئې ښکاره وو، د امام اعظم رحمة الله علیه شاګرد وو، په خپل وخت کي لوی فقیه وو، تر ټولو علماوو مخکي وو، ډېر علم، حکم ریاست

---

[1] حسن التقاضي ص ۹
[2] تاریخ بغداد ج ۱۳ ص ۲۴۶
[3] حسن التقاضي ص ۱۵
[4] تاریخ بغداد ج ۱۴ ص ۲۴۶

او قدرت ئې درلود؛ لومړی کس وو چي په اصول الفقه کي ئې کتابونه تصنيف کړه او مسئلې ئې له يادو خلکو ته تدريس کړي، د امام اعظم رحمة الله عليه د مذهب احکام ئې د نړۍ زياتو سيمو ته ورسول[1]"

"محمد بن سماعه وويل: امام ابو يوسف رحمة الله عليه چي کله قاضي سو هره ورځ ئې دوه سوه ( ۲۰۰ ) رکعته لمونځ کوی[2]"

امام ابو يوسف لومړی کس وو چي قضا ته وبلل سو[3].

"محمدبن صباح وويل: امام ابو يوسف رحمة الله عليه صالح انسان وو تل ئې روژه نيول[4]"

حضرت امام ابو يوسف رحمة الله عليه د درو عباسي پاچهانو (مهدي، هادي او هارون الرشيد) په واکمنۍ کي قاضي وو او شل مشهور کتابونه ئې ليکلي دي:

چي په لاندي نومونو دي

۱. کتاب في الأُصول ۲. کتاب الامالي ۳. کتاب الصلٰوة ۴. کتاب الزکٰوة

۵. کتاب الصيام ٦. کتاب الفرائض ۷. کتاب البيوع ۸. کتاب الحدود

۹. کتاب الوکالة ۱۰. کتاب الوصايا ۱۱. کتاب الصيد والذبايح

۱۲. کتاب الغصب والاستبراء ۱۳. کتاب اختلاف الامصار

---

[1] تاريخ بغداد ج ۱۴ ص ۲۴۵

[2] تاريخ بغداد ج ۱۴ ص ۲۵۵

[3] تاريخ بغداد ج ۱۴ ص ۲۴۲

[4] کتاب الثقات لابن حبان ج ۷ ص ۶۴۶

۱۴. کتاب الرد علی مالک بن انس ۱۵. کتاب الجوامع ۱٦. کتاب الا
ثار ۱۷. رساله في الخراج ۱۸. آراء ابي حنیفه و الدفاع عنها
۱۹. اختلاف ابي حنیفه و ابن ابي لیلي ۲۰ الرد علی سیر
الاوزاعي.

# حضرت امام محمدبن حسن الشيباني رحمة الله عليه

حضرت امام محمد بن حسن الشيباني رحمة الله عليه په کال ۱۳۲ هـ ق کي په واسط کي زیږېدلی او په ۱۸۹ هـ کي وفات سوي دئ .

امام محمد رحمة الله عليه په کوفه کي لوی سوی دئ د امام اعظم رحمة الله عليه ،مسعر بن کدام او سفیان ثوري رحمة الله عليه څخه ئې زده کړه حاصله کړه او د امام اعظم رحمة الله عليه تر وفات وروسته ئې د امام ابو یوسف رحمة الله عليه څخه فقه زده کړه او د امام مالک رحمة الله عليه ، ابو عمرو الاوزاعي او ابو یوسف رحمة الله عليه له خولې څخه ئې کتابونه ولیکل، ډېر حدیثونه ئې زده کړه ، بغداد ته ولاړ هلته ئې استوګنه غوره کړه زیاتو کسانو حدیثونه ځني زده کړه محمد بن ادریس ( امام شافعي ) رحمة الله عليه ،ابو سلیمان جوزجاني، ابو عبید القاسم بن سلام او نورو د حدیثونو روایت ځني کړی دئ[1].

"امام محمد رحمة الله عليه وويل : پلار مي دېرش زره ۳۰۰۰۰ درهم په میراث پرې ایښي وو پنځلس زره ۱۵۰۰۰ درهم مي د نحو او شعر په زده کړه کي مصرف کړي پنځلس زره ۱۵۰۰۰ درهم مي د حدیثو په زده کړه کي مصرف کړي دي[2]"

یحيٰ بن معین د امام محمد رحمة الله عليه له خولې څخه جامع الصغیر

---

[1] تاريخ بغداد ج ۲ ص ۱۷۲

[2] تاريخ بغداد ج ۲ ص ۱۷۳

ولیکی[۱].

امام محمد رحمة الله علیه ډېر ځیرک عالم وو لویو امامانو فقه ځني زده کړه او کتابونه ئې ترې جوړ کړه په عراق کي د فقهي ریاست په امام محمد رحمة الله علیه سره پای ته ورسېد[۲].

"امام محمد رحمة الله علیه وویل : د امام مالک رحمة الله علیه سره مي څه زیات دري کاله تېر کړه او وه سوه ( ۷۰۰ ) حدیثونه مي ځني واورېدل[۳]"

"امام شافعي رحمة الله علیه وویل :داسي څوک مي نه دئ لیدلی چي تر امام محمد رحمة الله علیه دي په قرآن عظیم الشان ښه پوهېږي که مي خوښه وای نو د امام محمد رحمة الله علیه د ډېر فصاحت له امله به مي ویلي وای چي قرآن عظیم الشان د امام محمد رحمة الله علیه په ژبه نازل سوی دئ[۴]"

"امام شافعي رحمة الله علیه وویل :د امام محمد رحمة الله علیه څخه مي د اوښ د بار (پیټي) په اندازه کتابونه زده کړه او په فقه کي تر ټولو زیات پېرزوینه امام محمد رحمة الله علیه را باندي کړې ده[۵]"

"البویطي د امام شافعي رحمة الله علیه څخه روایت کوي چي امام شافعي رحمة الله علیه وویل :خدای تعالی جل جلاله په علم کي په څو کسانو مرسته راسره وکړه:په حدیثونو کي په ابن عینیه او په فقه کي په امام محمد بن حسن رحمة الله علیه[۶]"

---

[۱] تاریخ بغداد ج ۲ ص ۱۷۶
[۲] مناقب ابي حنیفه و صاحبیه للحافظ الذهبي ص ۵۰
[۳] تاریخ بغداد ج ۲ ص ۱۷۳
[۴] تاریخ بغداد ج ۲ ص ۱۷۵
[۵] تاریخ بغداد ج ۲ ص ۱۷۶
[۶] ذیل الجواهر المضیئة ص ۵۲۷

"الديلمي د امام شافعي رحمة الله عليه څخه روايت کوي چي امام شافعي رحمة الله عليه وويل: د امام محمد رحمة الله عليه سره مي لس کاله تېر کړه د اوښ د بار په اندازه مي علمي خبري ترې زده کړې؛ که امام محمد رحمة الله عليه د خپلي پوهې په کچه خبري کولای موږ به هيڅ په پوه سوي نه وای خو هغه زموږ د عقلونو سره سمي خبري کولې[1]"

"امام شافعي رحمة الله عليه وويل: د امام محمد رحمة الله عليه پرته چي به مي هر چاته وکتل تر تاثير لاندي به راغی او ښې به ئې بدلون وکړ[2]"

"امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه وويل: که پر يوه مسئله د درو کسانو قولونه متفق راغلي وي د هغې مسئلې څخه مخالفت روا نه دئ! يو چا پوښتنه وکړه هغه کوم قولونه دي؟ امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه وويل: د امام اعظم رحمة الله عليه، امام ابو يوسف رحمة الله عليه او امام محمد رحمة الله عليه قولونه دي ځکه امام اعظم رحمة الله عليه په قياس کي تر ټولو پوه دی، امام ابو يوسف رحمة الله عليه په اثارو (حديثو) پوه دی او امام محمد رحمة الله عليه په عربي ژبه پوه دئ[3]"

"د امام محمد رحمة الله عليه ځيني شاګردانو ويلي دي: امام محمد رحمة الله عليه په يوه شپه او ورځ کي د قرآن عظيم الشان ديوې دريمي تلاوت کوی ډېر ځيرک او د پوره عقل څښتن وو[4]"

"ابراهيم الجرلي وويل: د امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه څخه مي پوښتنه

---

[1]ذيل الجواهر المضيه ص ٥٢٨
[2]تاريخ بغداد ج ٢ ص ١٧٧
[3]الانساب للسمعاني ج ٨ ص ٢٠٤
[4]مناقب ابي حنيفه و صاحبيه للحافظ الذهبي ص ٥٦

وکړه : دغه باریکي مسئلې دي له چا څخه زده کړې ؟ هغه وویل : د امام محمد رحمة الله عليه له کتابونو څخه مي زده کړي[1]"

عبيد الله بن محمد بن سلام وايي :ما خوب وليدی چي له اسمانه څخه دوې سپوږمۍ ځمکي ته راولوېږي دوې مياشتي نه وي تېري سوي چي امام محمد رحمة الله عليه او الكسائي رحمة الله عليه په يوه ورځ وفات سول .

امام محمد رحمة الله عليه او الكسائي رحمة الله عليه د هارون رشيد پاچا سره رَی (د ايران يوه سيمه ده ) ته ولاړل هلته دواړه په يوه ورځ وفات سول هارون رشيد وويل : نن مو لغت او فقه خاورو ته وسپارل[2].

---

[1] تاريخ بغداد ج ٢ ص ١٧٧
[2] تاريخ بغداد ج ١ص ١٨١، ١٨٢

# امام زَفر بن هزیل رحمة الله علیه

امام زُفر بن هزیل رحمة الله علیه په ۱۱۰ هـ ق کال په بصره کې زیږیدلی او په ۱۸۵ هـ ق کال کې وفات سوي دئ دامام زُفر رحمة الله علیه پلار عرب او مورئې ایرانۍ وه .

امام زُفر رحمة الله علیه داسې کس وو چې امام اعظم رحمة الله علیه ئې ډېر عزت کوی او ویل بهئې : زما په شاګردانو کې امام زُفر رحمة الله علیه په قیاس کې تر ټولو پوه دئ[1].

"ابو عمرو وویل : امام زُفر رحمة الله علیه د عقل ، پوهې ، تقوٰی او فهم خاوند وو "

"ابن معین وویل : امام زُفر رحمة الله علیه د اعتماد وړ وو[2]"

"ابراهیم بن سلیمان وویل : د امام زُفر رحمة الله علیه په مخکې مو د دنیا بحث نه سو کولای که به مو وکړ امام زُفر رحمة الله علیه به ولاړ سو "

"وکیع وویل: د هیڅ چا مجلس دومره ګټه نه ده را رسولې لکه د امام زُفر رحمة الله علیه مجلس "

"فضل بن دکین وویل: کله چې امام اعظم رحمة الله علیه وفات سو د امام زُفر رحمة الله علیه سره ملګری سوم ځکه د امام اعظم رحمة الله علیه په شاګردانو کې امام زُفر رحمة الله علیه په فقه ډېر پوهېدی لو یه برخه مې ځنې یووړه "

---

[1] الفوائد البهية في تراجم الحنيفة

[2] ذيل الجواهر المضيئة ج ۱ ص ۲۴۳

"حسن بن زیاد وویل :
امام زُفر رحمة الله عليه او داؤد طائي رحمة الله عليه سره ملګری ول داؤد طائي رحمة الله عليه فقه پرېښوده او د عبادت خوا ته ئې مخه کړه خو امام زُفر رحمة الله عليه دواړه ( فقه او عبادت ) سره جمع کړه "
"محمد بن وهب وویل :
امام زُفر رحمة الله عليه د حدیثو له عالمانو څخه وو او په هغو لسو کسانو کي وو چي کتابونه ئې تدوین کړه"
"عبدالله ابن مبارک رحمة الله عليه وویل :
امام زُفر به ویل چي حدیث موجود وي موږ په رآی پسي نه ځو کله چي اثر ( حدیث ) پیداسي رآی پرېږدو[1]"

پای

---

[1] ذیل الجواهر المضیئة ص ٥٣٤ ــ ٥٣٦

# د صداقت خپرندویه ټولنې نور چاپ سوي کتابونه

الله ﷻ ته د رسېدو لاره
د اسلام ارکان
عشره مبشره (لس جنتیان)
د ګنا ضررونه
څلور امامان
دیني دعوت
میرویس نیکه
العربیه لنا اوله برخه
العربیه لنا دوهمه برخه
اوالعزمه رسولان
د قبر اوله شپه
حدیث پېژندنه
قصص القران
قصص الانبیا
د عبدالله بن عمر رضي الله عنه سل کیسې
د عایشې رضي الله عنها سل کیسې
نبوي طب
عقیده، عبادات او سلوک
د ګران نبي ﷺ خواږه سنتونه
د رسول الله ﷺ نصیحتونه
ټولنیز اخلاق
د رنځور درملنه
۱۱۰ قدسي احادیث
د نبوت او انبیاو تاریخ
د اسیا نن او سبا
د کوچنیانو روزنه
غرور او د هغه علاج
د کلیمې شریفې حقیقت
حضرت سعد بن ابي وقاص
حضرت ابو عبیده بن جراح
حضرت عمرو بن عاص
حضرت خالد بن ولید
غښتلي پښتون
پښتو متلونه
په افغانستان کي د اسلام خپرېدل
نبوي ژوند
نبوي سیرت
نبوي اخلاق
امام ابو حنیفه رحمه الله
امام ابو حنیفه او دده په مذهب کي ...
د لمانځه کتاب
نیچریه (دیني ملغلري)
د محمد ﷺ عبقریت
د مسلمان ځوانانو دیني مسؤلیتونه
قران او محمد ﷺ
د څلورو ژبو لارښود
د قران او حدیث قیمتي تحفه
د حسن او حسین رضي الله عنهما سل کیسې
اسانه لمونځ
څلوېښت حدیث د امام نووي رحمه الله
د ښځو د حج او عمرې لارښود

## د صداقت خپرندويه ټولنې چاپ سوي کتابونه

د اسلام ارکان
۱۱۰ قدسي احاديث
الله ته د رسېدو لار
نبوي ژوند
نبوي اخلاق
حديث پېژندنه
اوالعزمه رسولان
ميرويس نيکه
ديني دعوت
عشره مبشره
عقيده، عبادات او سلوک
ټولنيز اخلاق
د مسلمان ځوانانو ديني مسؤليتونه
غرور او دهغه علاج
د کوچنيانو روزنه
نبوي سيرت
د رنځور درملنه
غښتلي پښتون
د عايشې رض سل کيسې
د عبدالله بن عمر سل کيسې
العربيه لنا
خواږه سنتونه
د رسول الله نصيحتونه
د نبوت او انبياوو تاريخ
د رسول الله ص ياد او مينه
قصص الانبيا
اسانه فقه
نبوي تحفه
په قران کريم سره علاج
تعليم الاسلام
نبوي طب